د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه

ډاکټر کفایت الله وردګ

د کتاب په اړه

د کتاب نوم : د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه ۲

لیکوال: ډاکټر کفایت الله وردګ .

د کمپیوتر چارې: محمد نذیر (ذبیح)

بیا کتنه : مولوي محمد موسی وردګ

د چاپ وار : دوهم

د چاپ شمېره : ۲۰۰۰ ټوکه

فهرست

حضرت جنید بغدادي او د الله نه ویره

یو ځل د حج په وخت کې په مکه کې ډېر خلک را ټول شوي وو او په یو ځای کې اولیاء الله را غونډ وو او ددی په مینځ کې نوی ځوان حضرت جنید بغدادي رحمه الله هم وو پدې مجمع او ټولي کې د الله ② سره د مینې په موضوع باندې خبرې کېدلې هرچا وربانديې خپله رایه وړاندې کوله جنید بغدادي رحمه الله غلی وو د مجلس شریکانو ورڅخه په تاکید سره وغوښتل چې دی هم پکې یو څه ووایي لکن دی غلی وو آخر یې د خپل سر د ښکته اچولو سره او په سترګو کې یې د اوښکو سره وویل د الله سره مینه کونکی هغه کس دی چې خپل ځان د ❸ په مینه کې هېر کړي او ځان د ❸ په یاد کې مصروف کړ ي په دعا سره په ذکر سره او د خپل زړه په سترګو سره ویني هغه چې د ❸ ② ❸ د ویرې په ګرمي سره سوزیږي د ❸ ② یاد دده په زړه داسې تاثیر کوي لکه د شرابو جام چې څنګه تاثیر کوي هغه ټولې د ❸ خبرې کوي او د ❸ خبرې دده له خولې نه راوزي که هغه حرکت کوي نو د ❸ تر حکم لاندې حرکت کوي هغه خپل ټول آرام صرف د ❸ په اطاعت کې ویني او کله چې داسې ځای ته ورسیږي نو بیا دهغه خوراک، څښاک، خوب او لنډه داچې دهغه هر کار بیا صرف د ❸ د رضا لپاره وي هغه ددنیا کارونو ته هېڅ توجه نه ورکوي او د ❸ ② لوري ته په توجه سره هغه د ټول مخلوق نه بې نیازه وي. نو داکسان په رښتیا سره د ❸ ② عاشقان دي.

ما شاء الله

رښتون ولي

کله چې د بصرې ښار ته د والي په توګه لاړو د هغه ځای اوسیدونکي یې را تول کړل او خبرې یې ورته شروع کړې ورته یې وویل زه امیر المومنین ددې لپاره تاسې ته رالیږلی یم چې تاسې ته د ❸ ② کتاب او د هغه د پیغمبر ♈ احادیث در وښیم او ستاسې کوڅې درته پاکې کړم خلکو چې دا خبرې واورېدې نو حیران پاتې شول ځکه دوی پدې پوهېدل چې د یو مسلمان امیر یوه ذمه واري داده چې خلکو ته د هغوی دین ور وښیي خو دا چې د هغه یوه ذمه واري داده چې زمونږ کوڅې راته پاکې کړي دا یوه نوې او ددوی لپاره حیرانونکې خبره وه څوک وو هغه والي چې د چا په اړه د رسول الله ♈ لمسي حضرت حسن ❽ ویلي وو چې بصرې ته بیا دده نه غوره والي نه دی راغلی؟ دا هغه والي وو چې خپل نوم یې عبدالله بن قیس وو او په ابو موسی الاشعري سره یې شهرت درلود دا مبارک له خپل وطن یمن نه په ناڅاپي ډول هغه وخت مکې ته راغلو چې کله یې واورېدل چې په مکه کې یو عجیب انسان راښکاره شوی دی او هغه خلک د ❷ ② عبادت ته راغواړي او خلکو ته د نېکو خویونو لار ښونه کوي .

او په مکه مکرمه کې د رسول الله ♈ په خوا کې پاتې کېدو او له هغه نه یې د دین زده کړه کوله او خپل وطن ته بیا د ❷ د دین د خپرولو او نشر کولو په موخه لاړو او بیا د خیبر د واقعې نه وروسته هغه بېرته مدینې منورې ته راغلو چې پدې وخت کې جعفر ابن ابي طالب ❽ او نور مسلمانان ورسره یو ځای راغلل او رسول الله ♈ یې ښکلی استقبال وکړو او په راتلو یې خوشحالي ښکاره کړه او ده مبارک له ځان سره تر پنځوسو کسانو زیات د یمن خلک راوستل چې

تولو ته یې اسلام ورښودلی وو او هغوی مسلمانان شوي وو پدې کسانو کې دوه دده خپل ورونه وو ابو رحم او ابو برده ؓ څرنګه چې الاشعري صاحب ؓ پدې ډله کې وو رسول الله ﷺ ټول ګروپ ته اشعريين وويل او کله اهل يمن ته هم ا شعري د حضرت ابو موسى الاشعري ؓ له امله ويل کيږي رسول الله ﷺ د اشعري صاحب په ګروپ کې د موجوده کسانو ستاينه وکوله او ددوی يې نيک صفات بيان کړل او ويې ويل که چېرته اشعريين چېرته په سفر ځي او يا په عادي حالاتو کې ددوی په مينځ کې لږ اندازه خوراک وي دی يې په ښه توګه سره تقسيم کولی شي او کفايت پرې کولی شي او بيا يې وويل چې دوی لما څخه دي او زه له دوی څخه يم .

حضرت ابو موسى الاشعري ؓ ډير زر د مسلمانانو په جامعه کې د قدر وړ شو او ښه مرتبه يې پيدا کړه د ښه ذهن خاوند وو ښه استعداد يې لرلو په قضاوت کې يې پوره مهارت درلود ويل کيږي چې پدې امت کې قاضيان څلور کسان تېر شوي دي حضرت عمر ؓ حضرت علی ؓ حضرت ابو موسى اشعري ؓ او حضرت زيد بن ثابت ؓ .

حضرت ابو موسى اشعري ؓ په قدرتي توګه د ساده طبيعت خاوند وو او په قدرتي توګه هغه نېک طبيعت درلود او د اعتماد وړ کس وو او چې هرچا به ورسره څه قسم معامله کوله د پوره اعتماد سره ئې ورسره کولی شول او د جنګ په ميدان کې هغه زړور تکړه او د ښه استقامت او ښه مهارت خاوند مجاهد وو رسو ل الله ﷺ يې په اړه فرمايي د سپرو جنګياليو استاذ ابو موسى دی د حضرت ابو موسى اشعري ؓ پوره ذکاوت او د حالاتو په صحيح توګه د اندازې د اخستلو له امله دهغه دښمن ته اجازه نه ورکوله چې ده ؓ

ته دوکه یا فریب ورکړي او دجنګ په حالاتو کې به یې په سمه توګه د حالاتو اندازه اخسته او د پوره ضرورتیا سره به یې تېینګه فیصله کوله .

ابو موسی اشعري ❼ د مسلمانانو دهغه لښکر مشري کوله چې د سوساني امپراطوري په زمکو کې وو په اصفهان کې ورته خلک راغلل ورته ویل یې چې مونږ به تاسي ته جزیه درکړو او ستاسي فوځیان به له مونږ نه لاړ شي او جنګ به نه کوو څرنګه چې دوی په دې خبرو کې رښتوني نه وو او غوښتل یې چې د مسلمانانو ذهنونه له جنګ څخه واړوي او د خیانت او غداري په ډول یې په دوی باندې حمله کول غوښتل نو ابو موسی د دوی خبرو ته له هماغه لوري نه وکتل او خپلو جنګیالیو ته یې د نه غافل کېدو هدایت وکړو او تیار اوسېدل ددې امله چې کله هغوی په مسلمانانو حمله وکوله نو جنګ شروع شو تر سبا غرمې پورې جنګ د وام وکړو چې په پای کې د مسلمانانود ښکاره کامیابي سره پای ته ورسېدو .

لنډه دا چې حضرت ابو موسی اشعري ❼ یو هوښیار او تکړه جنګیالی وو او ده هروخت چې په کوم جنګ کې شرکت کړی دی د کامیابي صفت یې له ځان سره له هغه میدان څخه راوړی دی ، د ښه اواز خاوند وو تلاوت به یې په داسي اواز سره کولو چې دهغه کسانو زړونو ته به رسېدلو چې چا به ورته غوږ ایستلی وو رسو ل الله ﷺ دده په اړه فرمایي چې حضرت ابو موسی ته د آل داود د مزامیرو څخه مزمار ورکړل شوی دی حضرت عمر ❼ به کله له حضرت ابو موسی اشعري ❼ څخه غوښتل چې ده ته تلاوت وکوي ورته ویل به یې ابو موسی ته راشه زمونږ په زړونو کې د الله لپاره شوق را پیدا کړه (په خپل اواز راته تلاوت وکوه) د حضرت ابو موسی اشعري ❼ د قران سره د مینې

یوه بېلګه دا وه چې دی هم له هغه یو څو صحابه وو 📖 د جملې څخه وو چې په هغه وخت کې یې د نازل شویو آیتونو مجموعه په لیکلي شکل له ځان سره جمع کړې وه حضرت ابو موسی ❼ هر وخت په داسې جنګونو کې شرکت کړی دی چې مقابل لوری به یې مشرکین وو چې د الله ﷻ د دین ختمول به یې غوښتل او بیا دهغوی سره به جنګ کول پاک او له شک نه وتلی جهاد وو او کله به چې دمسلمانانو په مینځ کې تنازعات را پیدا شول دداسې خبرو نه به ابو موسی ❼ داسې غیب شو چې چېرته به هم نه ښکاره کېدلو او کله چې د حضرت علي او حضرت معاویه 📖 په مینځ کې تاو تریخ والی را پیدا شوی وو نو بیا هم دده همدا موقف وو یعنې په لنډه توګه په داسې شخړو کې چې د مسلمانانو په خپل مینځ کې به وو حضرت ابو موسی اشعري ❼ به بې طرفه وو او دا به یې رایه وه چې دا د ختمه کړل شي او که دا شخړې همداسې بې حل نه پاتې شي نو د اسلامي امت تاریخ ته یکې ګواښ ښکاره کیږي او په داسې حالاتو کې بې طرف پاتې کېدل هم دده د پوره ذکاوت او ځیرکتیا نښه وه .



د زده کړې سره رښتونې مینه

حضرت عبد الله بن عباس ❼ فرمايي : کله چې رسول الله ﷺ وفات شو په انصارو کې زما يو ملګرى وو هغه ته ما وويل چې اګر که رسول الله ﷺ وفات شو خو په غټ تعداد صحابه اوس هم زمونږ په مينځ کې دي مونږ به هغوى ته ورځو او ددوى نه به ديني علوم زده کوو ، هغه راته وويل چې په دې موجوده صحابه وو کې به څوک داسې وي چې هغه تاته علم در وښيي؟ زما حوصله ماته نه شوه ما بيا هم کوښښ شروع کړو چې په هرځاى کې به خبرېدم چې چا له نبي کريم ﷺ نه څه آورېدلي دي دهغه خواته به ورتلم پدې سره زه و توانېدم چې د انصارو نه مې ډېر معلومات را غونډ کړل او کله به چې په دې دوران کې کوم صحابي ته ورغلم او هغه به ويده وو ما به يې په دروازه کې خپل څادر خپور کړو او په انتظار به ورته کېناستم کله به داسې هم شول چې زما ځان او مخ به له ګرد نه خړ شول بيا به هم ما تر هغه وخته پورې صبر کولو چې هغه به را پاڅېدو او ما به ورسره رابطه وکوله په هغوى کې به ځينو راته ويل چې اى عبدالله ته خو د رسول الله ﷺ د تره زوى يې تا به څوک رالېږلي وو (بيا به مونږ درغلي وو) تا زمونږ ځاى ته د راتلو تکليف ولې کولو؟ ما به ورته ويل چې نه زه بايد خامخا راشم ځکه زه يو شاګرد او تاسې زما استاذان ياست يو کس چې ما ورته له اوږده وخت نه انتظار کولو لما پوښتنه وکوله چې له څه وخت نه انتظار يې؟ ما ورته وويل چې کافي اوږد وخت وشو چې دلته مې ستا د راتلو په تمه انتظار کولو هغه وويل څومره د افسوس خبره ده ! خو څوک به دې رالېږلو وو زه به دې را وېښ کړى وم ما ورته وويل چې ما تاته زما د ضرورت له امله تکليف درکول نه غوښتل ما دا

خپل کوښښ په همداسې توګه روان وساتلو تردې چې د خلکو د زده کړې لپاره زما لوري ته مخه کړه زما انصاري ملګرې له هغه وخت نه دا خبره په خپل ذهن کې ساتلې وه او په ما پسې متوجه شوی وو او بيا يې ويل چې دې هلک يقيناً چې خپل ځان له مونږ نه هوښيار ښکاره کړو .

سره مينه ﷺ د رسول الله

د حضرت ابي هاضم نه روايت دی چې سهل ابن سعد ❼ وويل چې مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چې يوه ښځه راغله او رسول الله ﷺ ته يې يو څادر راوړلو چې په غاړو کې يې ګلدوزي شوې وه رسول الله ﷺ ته يې وفرمايل چې دا ما تاته په خپلو لاسونو باندې جوړ کړی دی او پدې وخت کې د رسول الله ﷺ ورته ضرورت هم وو او هغه يې واغوستو چې زمونږ خوا ته راغلو او هغه يې آغوستلی وو په مونږ کې يو کس ورته وويل چې ای د الله رسوله دا ماته راکړه چې زه يې واغوندم رسول الله ﷺ ورته انکار ونه کولو او ورته يې وويل چې ښه ده دا به زه تاته درکړم رسول الله ﷺ له مونږ سره د يو څه ساعت د پاره کېناستلو او بيا يې کور ته تشريف يوړو هغه څادر يې همدې کس ته را ولېږلو زمونږ ملګرو دې کس ته وويل چې دا د ښه کار ونه کولو چې د رسول الله ﷺ نه د هغه څادر وغوښتلو چې کوم هغه پخپله آغوستی وو او تاته خو معلومه ده چې رسول الله ﷺ چاته ځواب نه ورکوي هغه کس ووي چې زما د په الله قسم وي چې ما ددې لپاره ترينه ونه غوښتو چې زه هغه د څادر په ډل استعمال کړم بلکه ددې لپاره مې تري و غوښتو چې کله زه مړ شم دا به زما لپاره کفن وي حضرت سهل ❼ فرمايي چې بيا کله هغه کس مړ شو د هماغه څادر نه يې ورته کفن جوړ کړو .

(صحيح البخاري)

❼حضرت ابو هريره

عن ابي هريره ❼ قال قال رسول الله ☸ .... د اسلام د شروع نه تر اوسه پورې پدې عبارت باندې په ميليونو مسلمانو تلفظ کړی دی او ددې عبارت له امله مسلمانان د حضرت ابي هريره ❼ د نوم سره شناخته شوي دي د جمعې په خطبو کې، په تقريرونو کې، په درسونو کې ، د حديثو په کتابونو کې او په رواياتو کې د ابو هريره ❼ نوم ياديږي د حضرت ابو هريره ❼ په واسطه باندې د رسول الله ☸ حديثونه او سنتونه وروستنيو امتونو ته نقل کيږي او ددې لړی اوله کړی همده مبارک جوړه کړېده او د حديثو د انتقال په تاريخ تر هرچا نه زيات دده مبارک نوم راځي او دده سره بيا ډېر راتلونکي نومونه عبدالله بن عمر، انس ابن مالک، ام المومنين حضرت عايشه، جابر ابن عبدالله، ابي سعيد الخدري 📖 او داسې نور چې په زرګونو روايتونه يې ترې کړي دي حضرت ابو هريره ❼ د جليل القدر صحابي حضرت طفيل ابن عامر ❼ په لاس باندې اسلام قبول کړی وو چې دوی دواړه تر يوې قبيلې الدوس پورې تړون لري کله چې حضرت طفيل ❼ وروسته ددې چې د اسلام په اولو ورځو کې يې د رسول الله ☸ سره ملاقات وکولو او خپل کلي ته ستون شو او په دعوت يې شروع وکوله حضرت ابو هريره ❼ هغه کس وو چې تر ټولو وړاندې يې دده دعوت ته لبيک وويل او دده سره په اسلام مشرف شو او دی د دوس قبيلې د عامو خلکو په څېر نه وو چې تر ډېره وخته پورې په خپله زړه عقيده يعنې جهالت باندې پاتې شول .

کله چې حضرت طفیل ❼ د بیا لپاره مکې مکرمې ته د خپل مرشد او لارښود حضرت رسول الله ﷺ سره د ملاقات لپاره راغلو نو حضرت ابو هریره ❼ یې په دې سفر کې ملګرتیا کوله چې ددې سفر په آخر کې د رسول الله ﷺ په ملاقات مشرف شو رسول الله ﷺ ترې وپوښتل چې نوم دې څه دی؟ ده ورته وویل چې عبد الشمس رسول الله ﷺ ورته ویل ستا نوم به عبد الرحمن شي ده ورته وویل هو عبد الرحمن به زما نوم وي په ابو هریره سره یې ددې امله شهرت درلود چې ده به هروخت له ځان سره پیشو ګرځوله او په یو قول چې دده دا نوم د ده د ورکتوب نه دده ملګری وو او چې کله دی ماشوم وو نو د پیشو سره یې مینه وه ددینه وروسته حضرت ابو هریره ❼ د یو څه وخت لپاره په خپله قبیله کې پاتې شو او بیا چې کله هجرت وشو نو بیا دی هم مدینې منورې ته د هجرت په اوم کال د خپلو ځینو نورو قومیانو سره په یو ځای راغلو او هلته د مجردیت په حالت کې د نورو اصحاب الصفه 📖 سره په یو ځای په جومات کې د رسول الله ﷺ د مدرسې د طالب په توګه پاتې کیدلو او دده په کور کې نور څوک نه وو صرف یوه مور یې وه چې هغه هم تردې وخته پورې لا مشرکه وه ده ورته ډیر ځله منت کولو چې هغه اسلام قبول کړي لکن هغې ددینه انکار کولو یو ځل یې چې په تنهایي کې ورته وویل چې راځه په پټه سره اسلام قبول کړه او په کوم پیغمبر پسې چې زه روان یم ته هم را روانه شه نو هغې په غصه کې رسول الله ﷺ ته څه سپکې سپورې ووې نو په ده باندې ډیرې بدې ولګیدلې او دده په سترګو کې اوښکې راغلې او په همدې حالت کې ترې را ووتلو او رسول الله ﷺ ته راغلو . هغه ترې پوښتنه وکوله چې ولې ژاړې؟ ده ورته وویل چې زه هر وخت خپلې مور ته د اسلام لورې ته بلنه ورکوم لکن هغه انکار کوي او نن مې د هغې د

خولې نه څه داسې الفاظ واورېدل چې په ما بد ولګېدل ته الله ته سوال وکوه چې د ابو هريره د مور زړه د اسلام خواته مائل کړي رسول الله ﷺ د حضرت ابو هريره رضي الله عنه د خبرې په غبرګون کې الله تعالى ته سوال وکولو چې الله د ابو هريره د مور زړه د اسلام لوري ته مائل کړه حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې زه کور ته لاړم نو مې وليدل چې دروازه بنده ده د ننه خوا نه مې د اوبو د تويېدلو ا واز تر غوږ شو ما چې دروازې ته زور ورکړو چې خلاصه يې کړم هغې راته اواز وکړو چې ابو هريره ته چې په کوم ځاى کې يې همدلته و درېږه او چې کله هغې جامې واغوستې نو يې راته وويل چې راځه اوس راشه چې زه ور ننوتلم دې راته وويل چې زه ددې ګواهي ورکوم چې الله تعالى يو دى شريک نه لري او زه د دې ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله تعالى بنده او دهغه رسول دى ما را منډه کړل رسول الله ﷺ ته راغلم پداسې حال کې چې زما د خوشحالۍ نه اوښکې روانې وې سره ددې چې يو ساعت مخکې زه په داسې حالت کې ورته راغلى وم چې د خفګان اوښکې مې په مخ روانې وې ما ورته وويل چې زما زيرى در باندې الله تعالى ستا دعا قبوله کړه او هغه د حضرت ابو هريره د مور زړه د اسلام خواته مائل کړو .

حضرت ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره بې ساري مينه لرله او کله هم د هغه مبارک د مخ له کتو نه ستومانه شوى نه وو او هروخت به يې پدې خبره شکر کولو چې دى يې مسلمان کړى دى او ويل به يې (حمد ثنا ده هغه ذات لره چې ابو هريره ته يې د اسلام لوري ته هدايت کړى دى حمد ثنا ده هغه ذات لره چا چې ابو هريره ته قران ور ښودلى دى ثنا ده هغه ذات لره چې ابو هريره ته يې د رسول الله ﷺ ملګرتيا ورکړې ده) .

کله چې مدینې منورې ته لاړو د حضرت ابو هریره ❼ د اسلام د زده کولو سره بې ساري مینه پیدا شوه حضرت زید ابن ثابت ❼ روایت کوي هغه وايي چې یو وخت زه او ابو هریره او زما نور ملګري په جوماتٍ کې وو مونځ مو کولو او د الله ② ذکر مو کولو پدې وخت کې رسول الله ☸ را ښکاره شو او راغلو زمونږ په مینځ کې کېناستلو مونږ ټول چپ او غلي شو ده مبارک ☸ وویل څه مو چې کول هغه روان وساتئ (مه غلي کیږئ) اول ما او زما ملګري دعا وکوله د حضرت ابو هریره ❼ نه وړاندې او رسول الله ☸ زمونږ په دعا باندې آمین وویل بیا حضرت ابو هریره ❼ خپله دعا شروع کړه هغه وویل ای ربه زه لتا نه د هغه څه سوال کوم چې دا زما دوه ملګرو د کوم شي سوال وکولو او زه لتا نه داسې علم هم غواړم چې بیا رانه هېر نه شي رسول الله ☸ وویل آمین بیا مونږ هم وویل چې مونږ هم داسې علم غواړو چې له مونږ نه هېر نه شي رسول الله ☸ وویل چې ستاسي دوسي ملګری (ابو هریره) پدې سوال کې لتاسې نه وړاندې شوی دی .

حضرت ابو هریره ❼ د خپلې حافظې په برکت د رسول الله ☸ سره د لږ وخت ملګری کې ډېر څه زده کړي او هغه ددې په قدر باندې ښه پوه شوی وو چې ده کوم شی زده کړي وو او بیا یې خپل ټول ځان د اسلام خدمت او ددین خپرولو ته وقف کړی وو خپل ټول وخت یې درس او تدریس ته ورکړی وو د نورو مهاجرینو او نورو مسلمانانو په څیر یې ځان د دنیا په کارونو باندې نه وو مصروف کړی او نه به تجارت ته تلو او نه به یې د تجارت په کارونو کې کار درلود او نه یې بازار ته د تلو ضرورت محسوس کاوه او نه د انصارو په څېر د زمکو او جائداد مالک وو چې د هغې په پالنه کې مصروف شوی وای کله به چې رسول الله ☸ په

مدینه کې وو دی به ورسره په مدینه کې وو او کله به چې هغه په سفر تلو دی به ورسره په سفر روان وو .

اکثر صحابه 📖 به دېته حیران وو چې ده څومره حدیثونه په یاد کړي وو او اکثرو صحابه وو به دده نه دکومې موضوع په اړه باندې د کوم خاص حدیث په اړه پوښتنه کوله یو ځل حضرت مروان ابن حکم ❼ غوښتل چې د حضرت ابې هریره ❼ د حافظې امتحان واخلي هغه دده سره په یوه کوټه کې کېناستلو او د حدیثو پوښتنې یې ترې کولې او تر پردې شاته یې یو لیکوال کېنولو هغه هر هغه شی لیکل چې حضرت ابو هریره ❼ وربانديې تلفظ کولو او هغه لیکل یې وساتل پوره یو کال وروسته یې ترې بیا دهماغه حدیثونو په اړه پوښتنې کول شروع کړل چې کله یې دهغه موجوده وینا او پخوانۍ وینا سره مقایسه کړې نو ښکاره شوه چې حتی یو لفظ یې هم نه دی هېر کړی . حضرت ابو هریره ته د یو استاد او د حدیثو د نقل کونکي په نظر کتل کېدل او دده کار خلکو ته دهغه حدیثونو ور ښودل وو چې کوم ده له رسول الله ﷺ څخه زده کړي وو ، یوه ورځ حضرت ابو هریره ❼ د مدینې په بازار باندې تېرېدلو خلک په خپلو تجارتونو کې مصروف وو ده ورته وویل چې ای خلکو تاسې څومره کمزوري یاست؟ هغوی ورته وویل ولې؟ ده ورته وویل چې د رسول الله ﷺ میراث هلته تقسیم کیږي او تاسې دلته پاتې شوي یاست. دوی ورته وویل چېرته؟ ده مبارک ورته وویل هلته په جوماتونو کې .. دوی په منډه منډه راغلل جومات ته او بېرته حضرت ابو هریره ته را ستانه شول وویل مونږ خو جومات ته لاړو او هلته خو مونږ څه ډول تقسیم ونه لیدو ؟ حضرت ابو هریره ❼ ورڅخه و پوښتل چې تاسې هلته څوک هم ونه لیدل ؟ دوی ورته وویل چې هلته مو څه کسان ولیدل مونځونه

يې كول، څه كسانو تلاوت كول ، او څه كسانو د حرامو او حلالو په اړه باندې خبرې كولې حضرت ابو هريره ورته وويل چې افسوس دى ستاسې په حال خو همدا د رسول الله ﷺ ميراث دى چې تقسيم كيږي حضرت ابو هريره رضي الله عنه ددې دين په زده كولو كې زيات تكليفونه برداشت كول او اكثر وخت به وږى وو او هغه دخپل ځان په اړه فرمايي چې كله به زه ډير زيات وږى شوم نو د رسول الله ﷺ كوم صحابي ته به ورغلم او له هغه نه به مې دكوم آيت په اړه پوښتنه وكوله او هغه به مې ترې زده كړو چې د ډوډۍ وخت به شو هغه به له ځان سره بوتلم او ډوډۍ به يې را باندې وخوړه .

يوه ورځ چې زه ډير وږى وم نو په خپله خيټه پورې مې ددې لپاره چې يو څه درنده شي كاڼى تړلى وو په لاره كې ناست وم چې څوک به راشي حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه راغلو او ما ترېنه د كوم آيت په اړه پوښتنه وكوله هغه راته صرف زما د پوښتنې ځواب راكړو او د خوراک لپاره يې راته ست ونه كولو بيا حضرت عمر رضي الله عنه راغلو د هغه نه مې هم چې څه پوښتنه وكوله دهماغې پوښتنې ځواب يې راكړو او نور يې راته څه ونه ويل پدې كې رسول الله ﷺ راغلو او هغه په ما باندې پوه شو چې زه وږى يم او راته يې وويل چې ابو هريره ! ما ورته وويل هو! ويل يې په ما پسې راځه ... مونږ دواړه لاړو چې د دوى مبارک كور ته ننوتلو په كور كې يې يو جام شودې پيدا كړې پوښتنه يې وكوله چې دا له كومه راغلې؟ د كور والو ورته وويل چې تاسې ته چا رالېږلې دي ما ته يې ويل چې ابو هريره ورشه اصحاب صفه را وغواړه هغوى ټول راغلل او د همدې شودو نه يې وڅښلې او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې ما هم ترې وڅښلې او دا يو جام


شودي د ډېرو كسانو لپاره د معجزې په توګه باندي پوره شوې .

بيا يو وخت داسې شو چي مسلمانانو ته الله ② ډېر نعمتونه وركړل ابو هريره ❼ هم د ښه ژوند ، د كور واله، د ماشوم خاوند شو او ښه ژوند يې لرلو خو بيا هم دې ژوند دده څخه هغه ټول تكليفونه او زحمتونه او د سختى ورځې هيري نه كړي ده به ويل چي د يتيم ماشوم په ډول لوى شوم او د يو غريب انسان په توګه مهاجر شوم غريب وم د خپلې ګېډې لپاره به مې خوراك له بصره بنت غزوان څخه اخسته ما به د خلكو خدمت كولو چي دوى به له سفر نه را و ګرځېدل بيا الله ② زما سره مرسته وكوله او همدا بصره بنت غزوان سره مې نكاح وكوله الله ② لره حمد او ثنا ده چي ابو هريره يې يو امام جوړ كړى دى او دا جمله به ده هغه وخت ډېره ويله كله چي دى د مدينې منورې د والي په ډول مقرر كړل شوى وو او پدې وخت كې به يې هم خپل ډېر وخت د الله ② په عبادت ذكر او فكر كې تېرولو د شپې مونځ كول او شپه الله ② ته په ولاړه تېرول دده عام ژوند وو ددوى په كور كې به ټوله شپه د الله ② عبادت كېدو په اوله دريمه كې به دده لور مباركې عبادت كولو په بله دريمه كې به دى را پاڅېدو او د شپې په آخره دريمه كې به دده كوروالـه را پاڅېده پدې سلسله به دابو هريره په كور كې يو ساعت هم داسې نه راتلو چي د الله ② عبادت به پكې نه كېدو .

حضرت ابو هريره ❼ ټول عمر دخپلې مور ډېر احترام كولو او دهغې عزت به يې كولو كله به هم چي له كور نه وتلو نو ددې مباركې كوټې ته به ورغلو په دروازه كې به ور ودرېدو ورته ويل به يې پر تا دې سلام وي مورې الله ② دې په تا

باندې رحم وکوي او الله ② د په تا باندې مهربان اوسي هغې به ورته ویل پر تا دې سلام وي زوی کیه الله ② دې په تا باندې مهربان شي او الله ② دې در باندې ورحمیږي کله کله به یې خپلې مور ته ویل چې مورې الله ② دې په تا باندې ورحمیږي لکه څنګه چې زه وړوکی وم او تا زما ساتنه وکوله دې مبارکې به ورته ویل چې الله ② دې په تا باندې ورحمیږي لکه څنګه چې تا زه سمې لارې ته متوجه کړم او زما خیال د وساتلو په داسې وخت کې چې زه د لوی عمر خاوند وم .. حضرت ابو هریره ❼ به تل خلکو ته ویل چې د خپل مور پلار سره دې مهربانه اوسي او د هغوی سره دې ښه رویه وکوي یوه ورځ یې چې ولیدل دوه کسان په لاره روان وو او یو پکې مشر ښکاره کېدو نو د کشر نه یې پوښتنه وکوله چې دا ستا څه دی؟ هغه ورته وویل چې پلار مې دی حضرت ابو هریره ❼ ورته وویل چې ده ته په خپل نوم سره مه وایه، په لاره ترېنه مخکې مه ځه او په مجلس کې دده څخه وړاندې مه کینه ... مسلمانان ټول امام ابو هریره ❼ د یو امام په صفت پېژني او د هغه احسان مني چې دوی ته یې د رسول الله صلی الله د مبارکو حدیثونو په را رسولو کې مرسته کړېده امام ابو هریره ❼ د هجرت په ۵۹ هجري کال باندې د ۷۸ کلونو په عمر کې له دنیا نه سترګې پټې کړې .

الله ② دې د محمد ☸ د امت نه ورته نېکه بدله ورکړي .



صرف د الله لپاره

په بنو اسرائیلو کې یو کس اوسېدو چې د الله ② عبادت به یې کاوه یو څوک ورته راغلل ورته یې وویل چې یوه قبیله ده هغوی د ونې عبادت کوي ده ته غصه ورغله او یو تبر یې را په اوږه کړو او د ونې په لور پدې نیت را روان شو چې ونه به ماتوي په مخه کې شیطان د یو زوړ سړي په شکل کې مخې ته ورغلو ورنه یې وپوښتل چې دی چېرته روان دی؟ ده ورته وویل چې دا خاصه ونه ده چې خلک یې عبادت کوي او زه یې اوس پرې کول غواړم او دې شرک ته خاتمه ورکول غواړم هغه شیطان چې د زوړ سړي په شکل کې وو ورته وویل چې دا کار ته نشي کولی ستا لپاره به ښه دا وي چې صرف د خپل عبادت سره کار وساتې او کوم شی چې په تا پورې اړه نه لري ستا ورسره څه کار نشته دا هم یو ډول عبادت دی ستا ورپورې څه کار دی پدې کې ده وویل چې نه زه دا ونه خامخا پرې کول غواړم او شیطان ورته نه پرېښودو پدې کې د دواړو جنګ شو چې په دې جنګ کې شیطان کمزوری شو چې کله شیطان خپل ځان په داسې حالت کې ولېدو چې هېڅ مرستندوی یې نه وو او نه یې د خلاصون لاره وه نو عابد ته یې وویل چې ما معاف کړه ما غلطي کړېده او اوس مې پرېږده نو چې کله یې پرېښود شیطان بیا ورته ویل چې ګوره الله ② په تا باندې ددې ونې پرې کول واجب کړي نه دي او که ته هغه پرې نه کړې نو تاته هېڅ نقصان نه در رسیږي او که چېرته بیا ددې ونې پرې کول ضروري وای نو الله ② به کوم پیغمبر ته ویلي وو چې دا ونه پرې کړه خو د عابد په زړه کې دې خبرو هېڅ ځای هم ونه نیولو او تر اوسه پورې یې اراده وه چې دا ونه باید زه پرې کړم پدې وخت کې بیا ددوی په مینځ کې جنګ شو او یو ځل بیا شیطان کمزوری شو نو یې ورته وویل ښه یوه خبره واوره زه

يوه بله خبره كوم هغه دا چې ته يو غريب انسان يې د ژوند مشكلات د زيات دي ته دا ونه مه پرې كوه زه به تاته هره ورځ درې د سرو زرو روپۍ دركوم او هره ورځ چې ته را پاڅيږې دا درې روپۍ به ستا د بالښت لاندې ايښې وي پدې پيسو باندې ته خپل مشكلات حل كولى شې، د خپلوانو سره مرسته كولى شې او همدارنګه په نورو نېكو كارونو كې يې مصرف كولى شې او د ونې پرې كول صرف يو كار دى هغه هم څه دومره فايده من نه دى ځكه خلک بلله ونه هم كېښودلى شي دې خبرو د عابد په زړه كې ځاى ونيولو او په همدې باندې اتفاق شو عابد بېرته خپل كور ته ستون شو او هره ورځ به يې تر بالښت لاندې درې د سرو زرو روپۍ پيدا كولې خو صرف دوه ورځې سر په سر لكن په دريمه ورځ بيا تر بالښت لاندې هيڅ هم نه وو عابد غصه شو او تبرګى يې را په اوږه كړو او كلكه اراده يې وكوله چې دا ځل به ونه پرې كوي شيطان بيا د زاړه سړي په شكل كې ورسره مخامخ شو پوښتنه يې ترې وكوله چې دى چېرته ځې؟ ده ورته په چيغه سره وويل چه ونه پرې كوم شيطان ورته وويل چې زه تا دېته نه پرېږدم چې ته هغه ونه پرې كړې خبره ترخه شوه او د دواړو په مينځ كې جنګ شروع شو لكن پدې ځل شيطان د پاسه شو او عابد يې را چپه كړو عابد ځان ته ډېر حيران شو چې هغه بل ځل مې دى دوه ځلې را چپه كړو دا اوس په ما څه وشول چې ماتې مې وخوړه نوپه خپل زړه كې يې ځواب پيدا نه كړو نو د شيطان څخه يې وپوښتل چې وجه څه ده؟ شيطان ورته وويل چې په اول ځل ستا غصه صرف د الله ② د رضا لپاره را پاريدلې وه او چې كله دې لما سره مقابله شوه نو هغه درسره مرسته وكوله او زه يې درته را چپه كړم او دا ځل يو څه غصه ستا د سرو زرو د روپيو د لاسه وركولو له امله هم

وه نو ځکه د الله ② مرسته لتا څخه پرې شوې وه نو ځکه ماته را چپه کړې .

نه وېره ②په يو ځوان زړه کې د الله

حضرت مالک بن دينار رحمه الله يوه ورځ په لاره تېرېدو چې ويې لېدل د لارې په غاړه يو ځوان کس ناست دی چې نوم يې عتبه وو او ژاړې سره ددې چې هوا ښه پوره يخه ده بيا هم په عتبه باندې خولې را ماتې دي مالک بن دينار رحمه الله چې دا حالت وليدلو نو وربانددې زيات حيران شو د ځوان نه يې پوښتنه وکوله چې ته ژاړې ولې؟ او بيا پدې يخه هوا کې پر تا باندې خوله ولې روانه ده؟ هغه ورته وويل چې يوه ورځ زه پدې ځای کې وم او ما دلته يوه ګناه کړې وه اوس چې پدې لاره راغلم هغه ګناه راته ياده شوه او په خپله ګناه باندې ژاړم .

که مونږ وګورو د تيرې زمانې د مسلمانانو په زړه کې د خپلو ګناهونو په اړه څومره غم او درد پروت وو اوس خو که مونږ په زرګونو ګناهونه هم کوو داسې بېغمه ګرځو لکه مونږ چې څه هم نه وي کړي .

حضرت ابو ذر غفاري

د مکې مکرمې په یوه غاړه کې چې په کوم ځای کې مکه د نور بهر علاقې سره تړل کېدله دلته یوه قبیله پرته وه چې د غفار په نوم وه پدې قبیله کې یو ځوان چې خپل نوم یې جندب ابن جنده وو او په ابوذر باندې یې شهرت درلودو اوسېدلو چې د ځوانۍ نه یې په زړورتیا تکړه والي او هوښیار والي کې شهرت درلود کله چې عرب د بتانو په عبادت باندې مصروف وو ده له اول نه ددې ډول عبادت نه کرکه کوله او د داسې ساده ډول عبادت نه یې ډېر بد وړل او د رسول الله ﷺ تر را ښکاره کېدلو نه وړاندې ورته دا کار د جهالت کار ښکاره کېدو سره ددې چې دې کار د ټولو عربو په زړه کې ښه ځای نیولی وو او هغه وخت دی په خپله قبیله کې وو چې تر دې ځایه پورې دا خبرې ور ورسېدلې چې په مکه کې پیغمبر را پیدا شوی دی او خلک د حق لارې ته را غواړي او خلک له تیارو نه د رڼا په لوري بیایي بغیر ددې چې خپل وخت خراب کړي او ددې خبرې په معلوماتو کې ځنډ وکوي نو سم د لاسه یې خپل ورور انیس را وغوښت او ورته یې وویل چې ځه لاړ شه او د هغه چا معلومات وکوه چې د پیغمبرۍ دعوه یې کړېده او څومره معلومات دې چې پدې اړه پیدا کولی شول را یې وړه او د هغه سره وګوره هغه چې څه درته وویل ماته به یې ووایې حضرت انیس راغلو او د رسول الله ﷺ سره د ملاقات نه وروسته بېرته راستون شو او خپل مشر ورور حضرت ابو زریې په ډېره بې قرارۍ سره انتظار کولو او چې راغلو نو د پیغمبر په اړه یې ورڅخه پوښتنه وکوله ورور یې ورته وویل چې ما د هماغه کس سره وکتل چې چا د پیغمبرۍ دعوه کړېده د هغه خبرې رښتونې معلومېدلې او په خبرو کې یې هېڅ ډول شاعري او یا بل شی نه وو . حضرت ابو ذر تري وپوښتل چې دده په اړه

باندې خلکو څه ویل؟ورور یې ویل چې خلکو ویل چې دا لېونی دی، ساحر دی او شاعر دی .

حضرت ابو ذر ❼ وویل چې زما زړه اوس هم اطمنان ونه کولو او پدې خبرو زما زړه صبر نه شو که ته چېرته زما د کور او زما د اهل ساتنه وکوې نو زه پخپله مکې ته ځم او پدې اړه زه پخپله معلومات کوم .. ورور یې ورته ویل چې ښه ده لاړ شه لکن د مکې د خلکو نه د خپل ځان ساتنه کوه ... حضرت ابو ذر ❼ مکې ته راغلو په را رسېدلو سره یې دا معلومه کړه چې د مکې خلک رسول الله ☸ او دهغه ملګرو ته ډېر زیات په غصه دي او که څوک هم دهغه په اړه پوښتنه کوي نو وهل کیږي او تکول کیږي نو ځکه چپ پاتې شو صرف څارنه یې کوله او له چا نه یې هم د پوښتنې جرئت ددې امله نشوای کولی چې نه معلومېده چې دا کس به د رسول الله ☸ دوست او که دهغه دښمن وي په همداسې نامعلوم انتظار کې وربانديې شپه راغله نو د شپې د مکې مکرمې سره په خواکې اوږد څملاست چې حضرت علي ❼ وربانديې راغلو ویې کتل چې مسافر دی نو یې ورته د کورته د تللو ست وکولو دهغه سره لاړو مېلمه پالنه یې ورته وکوله او شپه یې له هغه سره تېره کړه او څرنګه چې حالات داسې وو چې یو پر بل باندې یقین نشوای کېدلی نو ټوله شپه پدې اړه باندې خبرې ونه شوې نو چې سحر شو بېرته له هغه کور نه را ووتلو او د مکې مکرمې خوا ته راغلو دا ورځ هم په همداسې بې خبرۍ کې تېره شوه هېڅ معلومات ونشو چې هغه پیغمبر چېرته دی او د هغه سره ملاقات څنګه کیږي چې ماښام شو ده بیا په حرم کې د څملاستلو اراده درلوده چې حضرت علي ❼ بیا وربانديې راغلو او دی یې بیا له ځان سره کور ته بوتلو پدې شپه کې هم نه دده نه څه پوښتنه وشوه چې ته مکې ته د څه لپاره راغلی یې او نه ده پدې

اړه پوښتنه وکوله چې هغه پيغمبر چېرته دی تردي چې شپه تېره شوه سبا ورځ بيا لکه پرون داسې تېره شوه او د دريمې شپې لپاره بيا حضرت علي ❼ له ځان سره کور ته بوتلو او دا شپه يې تري پوښتنه کوله چې ته ماته ويلی شې چې ته مکې ته د څه لپاره راغلی يې؟ حضرت ابو ذر ورته وويل چې که ته لما سره دا وعده کوې چې که زه تاته ووايم نو ته په ما ته سمه لاره را وښيې او زما مرسته به وکوې نو زه به تاته ووايم . حضرت علي ❼ ورسره وعده وکوله چې هغه به تر خپلې تولې وسې پورې دده مرسته کوي نو بيا ده ورته وويل چې زه راغلی يم مکې ته چې هغه کس ووينم چې د پيغمبري دعوه يې کړېده او زه غواړم چې واورم چې هغه څه وايي ... ددې خبرې په آورېدو سره د حضرت علي ❼ مخ د خوشحالي نه و ځلېدو او ويې ويل چې په الله د قسم وي هغه رښتونی پيغمبر دی او حضرت علي ❼ حضرت ابو ذر ❼ ته د رسول الله ﷺ او د هغه د هدايت په اړه نوري ډېري خبرې وکولې او بيا يې ورته وويل چې کله مونږ وختې پاڅېږو سحر ته په کومه لاره چې زه ځم ته به په ما پسې راځې که په لاره کې څه مشکل وو يا زه د څه نه وډار شوم نو زه به ودرېږم ته به پوه شې او که زه روان وم ته به په ما پسې ځې او په کوم ځای چې زه ننوتلم ته به هم ننوزې ... حضرت ابو ذر تر سحره پورې د خوشحالی نه خوب ونه کړو چې ډېر يې شوق وو چې کله به سحر کيږي چې زه د پيغمبر سره وګورم او د هغه خبرې واورم چې کله سحر شو نو په هماغه جوړه شوې نقشه دی او حضرت علي ❼ روان شول تردې چې رسول الله ﷺ ته ورسېدل حضرت ابو ذر ❼ ورته وويل چې السلام عليکم يا رسول الله .. رسول الله ﷺ ورته وويل وعليکم السلام ورحمة الله و برکاته او د اسلام په تاريخ کې ددې ځای نه حضرت ابو ذر ❼ اول هغه

کس دی چې رسول الله ﷺ ته یې په اسلامي طریقه باندې سلام کړی دی او بیا وروسته همدا الفاظ رسول الله ﷺ ته د سلام کولو لپاره عام شول او هرچا به همداسې سلام کولو .

رسول الله ﷺ د حضرت ابو ذر هرکلی وکړو او هغه ته یې د قران کریم یو څه آیتونه تلاوت کړل او بیا یې حضرت ابو ذر رضی الله عنه ته اسلام وړاندې کړو هغه اسلام قبول کړو او د شهادت کلمه یې وویله او دا د غفار قبیلې نه لمړی مسلمان وو .

راځئ چې د حضرت ابو ذر رضی الله عنه نه واورو چې هغه خپله قصه څنګه کوي هغه فرمايي چې ددېنه وروسته زه د یوڅه ورځو لپاره د پیغمبر سره پاتې شوم او هغه ماته اسلام را وښودو او د قران تلاوت یې را زده کړو او په اسلام یې پوه کړم او بیا یې راته وویل چې تر څو پورې مونږ د خپل دعوت اعلان نه وي کړی ته به هم خپل اسلام پټ ساتې او راته یې وویل چې د مکې د مشرکینو څخه به خپل اسلام پټ ساتي که هغوی ستا په اسلام خبر شي زه پدې ډارېږم چې تا به مړ کړي ابو ذر غفاري رضی الله عنه وویل چې زما روح د الله ج په اختیار کې دی زه په ترهغه د مکې نه نه ځم ترڅو مې چې دوی ته د اسلام اواز ور آورولی نه وي پدې سره رسول الله ﷺ چپ پاتې شو زه مکې ته راغلم قریش ناست وو خبرې یې کولې زه راغلم او ددوی په مینځ کې و درېدوم او په خپل پوره لوړ اواز مې وویل ای قریشو زه ددې ګواهي ورکوم چې الله یو دی شریک نه لري او زه ددې ګواهي ورکوم چې محمد د الله ج پیغمبر دی زما اواز په دوی باندې ډېر بد اثر وکړو او دوی په ما باندې را ټول شول په ډېره بې رحمی سره یې پر ما باندې د وهلو شروع وکوله او په یقیني توګه دوی غوښتل چې ما په وهلو سره ووژني پدې وخت کې حضرت عباس د رسول الله ﷺ تره زه و

پېژندلم هغه راغلو او خلکو ته یې وویل چې ای دا تاسې څه کوئ دا خو د غفار قبیلې سړی دی په کومه باندې چې ستاسې د تجارت لاره ده که دا مړ شو نو بیا به ستاسې دا لاره بنده شي پدې خبره سره دوی زه پرېښودم زه بېرته رسول الله ﷺ ته ورغلم هغه چې زما حالت ولیدو نو یې راته وویل چې ما تاته ونه ویل چې خپل اسلام تر اوسه پورې لا پټ وساته ...؟ ما ورته وویل چې ای د الله ② پیغمبره دا یو ضرورت وو ما په زړه کې محسوس کړو او پوره مې کړو بیا رسول الله ﷺ ماته وویل چې څه اوس دې خپلو خلکو ته ورشه او هغوی ته هر هغه څه ووایه چې تا دلته ولیدل او واد آورېدل خلک د الله لورې ته را وغواړه کېدای شي چې الله ② دوی ته ستا په لاس هدایت وکوي او ددوی له امله الله ② تاته ثواب درکړي او چې کله د واورېدل چې ما ځان ښکاره کړو نو بیا به زما خواته راشي . .. د رسول الله ﷺ ددې خبرو د آورېدو سره زه دهغه نه روان شوم چې کله خپلې علاقې ته راغلم ورور رانه پوښتنه وکوله چې څه دې وکول؟ ما ورته وویل چې ما د رسول الله ﷺ سره اسلام قبول کړو نور زه مسلمان یم بیا زما ورور هم مسلمان شو او په شریکه باندې ورغلو خپلې مور ته مو اسلام وړاندې کړو هغې وویل چې بچیانو زما هم ستاسو مذهب خوښ دی او هغه هم مسلمانه شوه پدې سره دا کورنۍ مکمله مسلمانان شول او په شریکه یې د الله ② د دین لپاره په غفار قبیله کې کار شروع کړو او ډېر خلک یې مسلمانان کړل او دوی ته یې دین ورزده کړو او ددوی په مینځ کې به په شریکه سره عبادت کېدو او د جمع مونځ به یې کولو حضرت ابو ذر ❼ په خپل ځای کې پاتې شو تردې چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکړو او د یو څه وخت تېرېدلو وروسته ابو ذر ❼ هلته پسې ورغلو بیا یې د رسول الله ﷺ نه وغوښتل چې

که هغه ته منظوره وي دی به د رسول الله ﷺ په
خاص خدمت کې پاتې شي او دده لپاره به خدمت
کوي رسول الله ﷺ پدې خبره خوشحال شو او هغه به
چې کله هم حضرت ابو ذر ❼ لیدلو نو په
خوشحالی سره به ورسره مخامخ کېدلو همدلته د
رسول الله ﷺ سره په هر ډول حالاتو کې پاتې شو
تردې چې کله رسول الله ﷺ وفات شو نو بیا دده هم
نور په مدینه کې وخت نشو تېرولی او په هره
لحظه کې به رسول الله ورته یادېدو او دا ژوند
ورته سخت وو نو بیا دده هم مدینه پرېښوده او
ترې مسافر شو .. او تر کومه پورې چې ژوندی
وو د ساده ژوند مالک وو او داسې ژوند یې کولو
لکه څنګه چې څوک په کوم ځای کې په عارضي توګه
اوسیږي کله چې یوه ورځ یو کس دده کور ته
راغلو او کور ته یې وکتل چې بالکل خالي ښکاره
کېدو هغه کس په حیرانی کې ترې پوښتنه وکوله
چې ستاسې د کور سامان چېرته دی؟ دده ورته په
مسکا کې وویل چې زمونږ په بل ځای کې یو کور
دی هلته مو لېږلی دی او مونږ اکثر سامان هلته
لېږو (دده مطلب د آخرت کور وو) هغه کس ورته
وویل چې دلته به هم یو څه سامان پرېښی وو
ترڅو چې اوسېدئ نو استعمالولو به مو .. حضرت
ابو ذر ❼ ورته وویل چې ددې کور مالک پدې
کور کې مونږ تر ډېره وخته پورې نه پرېږدي
.... حضرت ابو ذر ❼ د هجرت په ۳۲ کال له
دنیا نه رحلت وکولو الله ② یې دې مرتبې لوړې
کړي .


ن والقلم وما يسطرون

د مور اطاعت

حضرت علقمه ❼ جليل القدر صحابي وو او د الله ② په عبادت کولو کې به هر وخت مصروف وو روژه به يې په خوله او د شپې به يې مونځ کولو څه مال به چې په لاس ورغلو د الله په لاره کې يې له مصرف کولو نه نه سپمولو او د الله ② په لاره کې به په خيرات ورکولو سره ډېر زيات خوشحال کېدلو او ښه خيراتونه به يې کول دا يو وخت بيمار شو او بيماري يې ورو ورو پسې سختېده بي بي يې راغله رسول الله ❁ ته يې وفرمايل چې زه ددې لپاره راغلم چې تاته ووايم چې زما خاوند علقمه سخت بېمار دی او د مرګ په بستر باندې پروت دی رسول الله ❁ حضرت عمار، حضرت شعيب او حضرت بلال ته وويل چې تاسې ورشئ د علقمه کور ته او دهغه د مرګ په حالت کې هغه ته کلمه ووايست چې هغه يې درسره ووايي .. دوی چې کله ورغلل نو حضرت بلال ❼ د شهادت کلمه ويله لکن د علقمه ❼ ژبه وربانديې نه ګرځېده حضرت بلال ❼ په منډه منډه راغلو رسول الله ❁ ته يې وويل چې د هغه ژبه په کلمه نه ګرځي څه وکړو؟ رسول الله ❁ پوښتنه وکوله چې مور او پلار يې ژوندي دي؟ چا ورته وويل چې د الله رسوله صرف موريې ژوندۍ ده او بوډۍ ښځه ده رسول الله ❁ ورته احوال ور ولېږلو چې که هغه کولی شي چې د کور نه را بهر شي نو دلته دې راشي او که هغې ته راتلل تکليف وي نو دا دې په کور پاتې شي زه درځم.

کله چې دا خبر د علقمه مور ته راغلو هغې وويل چې زما عمر دې دده نه قربان شي زه ورځم او را پاڅېده خپله همسا يې را واخيسته او د رسول الله ❁ په مجلس کې حاضره شوه سلام يې وکولو رسول الله ❁ يې د سلام ځواب ورکړو او ورته يې

وويل اى د علقمه موري! ته ماته رښتيا ووايه او كنه نو الله ② به په ما باندې وحى نازله كړي او ماته به رښتيا را اورسوي د علقمه په اړه راته ووايه .. هغې مباركې وويل چې هغه ښه مونځ كوي او روژې نيسي او خيراتونه كوي رسول الله ❁ ورته وويل چې ستا په اړه څنګه دى؟ دې ورته وويل د الله رسوله زه ترېنه خفه يم.. رسول الله ❁ ورڅخه وپوښتل ولې؟ دې مباركې ورته وويل چې هغه خپله ښځه خوښه كړه او زما اطاعت يې پرېښودو بيا رسول الله ❁ ورته وويل د علقمه موري يقين دى چې دهغه ژبه د كلمې ويلو نه همدا ستا خفګان بنده كړېده بيا رسول الله ❁ حضرت بلال ته وويل چې ورشه لږ څه لرګي را ټول كړه دعلقمه مور پوښتنه وكوله چې اى د الله رسوله ستا څه اراده ده؟ رسول الله ❁ ورته وويل چې اوس يې زه همدا ستا په مخ كې سوزوم دې وويل اى د الله رسوله هغه زما زوى دى زه هغه داسې نشم ليدلى چې زما په مخ كې د وسوزيږي رسول الله ❁ ورته وويل اى د علقمه موري! د الله ② عذاب ددې اور نه ډېر سخت دى كه ته غواړې چې هغه د د عذاب نه وساتل شي نو ته ورته معافي وكوه او كه ته ورته معافي ونه كوې نو دهغه مونځونه ، روژې او خيراتونه به هغه ته هيڅ فايده هم ونه كوي د حضرت علقمه مور وويل اى د الله رسوله زه الله ② د هغه ملائكې او مسلمانان پدې باندې ګواه كوم چې زه له خپل زوى نه خوشحاله يم ... رسول الله ❁ حضرت بلال ته وويل چې څه اوس ورشه وګوره چې هغه كلمه ويلى شي او كنه ؟ چې كله بلال ❼ ورغلو نو ويې ليدل چې د هغه ژبه اوس په كلمه ګرځېده حضرت بلال ❼ دا خبره نوټ كړه او حضرت علقمه ❼ په همدې ورځ باندې وفات شو (الله ② يې دې مرتبې لوړې كړي) رسول الله ❁ يې د غسل په وركولو باندې امر وكړو او د تكفين او

تجهيز انتظام يې وشو رسول الله ﷺ يې په خپله جنازه وکړه او خښ يې کړو بيا يې رسول الله ﷺ د قبر په خوا کې ودرېدو او ويې فرمايل هغه ځوک چې د خپلې مور په مقابل کې د خپلې ښځې اړخ ونيسي الله او دهغه ملائکې او ټول خلک وربانديلعنت وايي ترڅو يې چې توبه ويستلې نه وي الله به يې خيراتونه ، مصرفونه او نور نيک کارونه قبول نه کړي دالله خوشحالي ستاسې د والدينو په خوشحالي کې او د هغه خفګان د دوی په خفګان کې دی .

د يوه کور په بدل کې په جنت کې کور

حضرت عبد الله ابن جحش دهغه کسانو له جملې څخه دی چې د اسلام په شروعاتو کې مسلمان شوی وو او کله چې په مکه مکرمه کې د قريشو ظلمونه تر حد واوښتل نو رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته مدينې منورې ته دهجرت کولو اجازه وکړه او د حضرت عبدالله ابن جحش لپاره هجرت څه نوې خبره نه وه ددېنه مخکې يې حبشې ته هجرت کړی وو خو دا ځل هجرت يو څه بدل وو دا ځل د خپلو ټولو ماشومانو، کور واله وو او ددوی د قبيلې نه مسلمانو کسانو دده په دې هجرت کې له ده سره ملګرې کوله دا هجرت په داسې وخت کې وو چې د مکې مشرانو به د مکې مسلمانان په غور سره څارل چې څوک شته او څوک تللي دي پدې وخت کې د

مکې دوه مشران را ووتل چې یو ابو جهل او بل یې عتبه وو او پدې وخت کې دوی ډېر لرې نه وو تللي چې د مکې د مشرانو د حضرت عبد الله او د جحش د کورنۍ د نور غړو کورنو ته د دوی ور پام شو چې خالي وو او بادونه پکې لګېدل یو بل ته یې سره چېغه کړه چې دبنو جحش کورونه خالي شوي دي او دوي چېرته تللي دي او د حضرت عبد الله بن جحش ډېر ښکلی او قیمتي کور وو او هغه مبارک همدا قیمتي کور د الله ② د رضا لپاره پرېښود او ابو جهل ورننوتلو او هرڅه چې پکې وو هغه یې را ټول کړل کله چې حضرت عبد الله بن جحش ته ددې خبر ورسېدو چې ابو جهل دده له کور سره څه کړي دي هغه دا خبره له رسول الله ﷺ سره شریکه کړه او هغه ورته وویل چې ته اوس دهغه په اړه فکر مه کوه ولی تا دا کور د الله ② د رضا لپاره قرباني کړی نه وو؟ ښه نه ده چې الله ② تاته ددې کور په ځای په جنت کې کور درکړي؟ حضرت عبد الله ورته وویل هو د الله رسوله خوښه مې ده ددې ورځې نه وروسته به حضرت عبد الله ❼ کله ددې کور په اړه نه شکایت وکولو او نه څه فریاد او ټول عمر به یې پدې خبره خوښي ښکاره کوله چې الله ② به ده ته ددې کور په بدل کې په جنت کې کور ورکوي .

ابو سفیان ابن الحارث

د دوو کسانو په مینځ کې ډېر کم داسې خوا ږه تعلقات پیدا کیږي لکه د رسول الله ﷺ او د سفیان ابن الحارث په مینځ کې چې وو البته دا هغه سفیان ابن الحرب نه دی دا سفیان ابن حارث دی چې د رسول الله ﷺ د سکه تره زوی دی او څرنګه چې د یو څه وخت لپاره دده پالنه هم حضرت حلیمې بي بي کړېده نو د رسول الله ﷺ رضاعي ورور هم دی په یو ځای سره لوی شوي او ډېر وخت یې سره یو ځای تېر کړی دی او ډېر وخت په یوه کور کې هم سره اوسېدلي دي او په عمر کې هم سره همزولي وو ، او ددې ټولو خبرو تقاضا دا وه چې کله رسو ل الله ﷺ د خپل دعوت شروع کړې وای نو ابو سفیان باید اول هغه کس وای چې دې اواز ته یې لبیک ویلي وای لکن بیا هم داسې ونه شول او کله چې رسول الله ﷺ د خپل دعوت اعلان وکولو نو پدې وخت کې ابو سفیان ابن الحارث د قریشو نامتو جنګیالی او نامتو شاعر هم وو هغه خپل ځان او قلم دواړه د رسول الله ﷺ په خلاف استعمالول شروع کړل او کله به هم د قریشو او مسلمانانو په مینځ کې جنګ کېدو ابو سفیان ابن الحارث به د چې قریشو د لوري نه شه ونډه پکې اخستله آن تقریباً تر شلو کلونو پوري هغه پدې خپل ضد باندې پاتې شو او د هغه دریو نورو ورنو نوفل، ربیعه او عبدالله له مخکې نه اسلام قبول کړی وو لکن ده نه وو قبول کړی د هجرت په آتم کال د مکې تر فتح وړاندې دده حالت بدلون ته تیار شو او دده حالت پداسې توګه بدل شو لکه دی چې وایي چې کله ماته ښکاره شوه چې هرې خواته د اسلام خبرې کېدلې او اسلام خپرېدلو او هر لوري ته د اسلام ترقي مخ په وړاندې تله نو ما خپل ځان تنګ محسوس کولو ماته خپل ځان داسې ښکاره کېدو لکه زه چې په دام کې ګیر شوی وم

او ما به ویل چې زه به چېرته ځم ؟ او داسې نور سوالونه وو چې زما په زړه کې به را تاوېدل آخر مې خپل کور واله او ماشومانو ته ویل چې ځانونه تیار کړئ مکه پرېږدو او چې مسلمانان مکې ته راشي نو یقیني خبره ده چې ما به وژني زما کور واله وویل چې ته اوس پدې خبره باید پوه شې چې عربو او عجمو د محمد دین قبول کړی دی او ته تر اوسه پورې په خپل ضد باندې ولاړ یې او ته باید اول هغه کس وای چې د هغه مرستې ته تیار شوی وای ، تا باید په اول وخت کې د هغه تصدیق کړی وای او د هغه مټ دې مضبوط کړی وای هغوی ددې کوښښ کولو چې زما دماغ دېته تیار کړي چې زه د رسول الله ﷺ سره په خپله رویه باندې بیا فکر وکوم ددې خبرو په دوران کې الله ② زما زړه د اسلام خواته خلاص کړو پدې وخت کې ما خپل غلام ته امر وکړو چې زه چېرته ځم یو آس او یو اوښ راته تیار کړه خپل زوی جعفر مې له ځان سره ملګری کړو او په تیزۍ سره مو د الابوا په لوري حرکت وکړو دا د مکې مکرمې او مدینې منورې په مینځ کې یو ځای دی ما آورېدلي وو چې رسول الله ﷺ دلته دمه کړېده په هغه وخت کې چې د مکې په لور د ټولو مسلمانانو سره را روان وو کله چې مونږ هغه ځای ته ور نېږدې شوو نو ددې لپاره چې ما څوک ونه پېژني هسې نه چې پېغمبر علیه السلام ته له رسېدو نه وړاندې مې څوک مړ کړي نو خپل مخ مې په څادر کې پټ کړو او چې ډېر ور نېږدې شوم نو په پښو باندې روان شوم او چې د صحابه وو اوله ډله په مخه راغله نو له هغوی نه مې لاره چپه کړه و ډار شوم هسې نه چې څوک مې و پېژني او همداسې په غلې غلې توګه ما ځان تر هغه وخته پورې وساتلو چې تر څو رسول الله ﷺ په یوه ټولي کې راته ښکاره شو چې را روان دی زه ورته بالکل مخامخ شوم او چې ښه ور نېږدې شوم نو له خپل مخ نه مې څادر لرې کړو هغه زه ولیدلم او

ویـې پـېژنـدلم لـکن لـمـا څخه یـې مخ تـاو کـړو زه یـې مخې تـه ور تـاو شوم لـکن هغه بـیـا هم لـمـا څخه مخ تـاو کـړو او نـه یـې غوښتل چې زمـا مخ تـه وګوري دا کـار یـې را سره څو ځلـه وکـولـو پـدې وخت کې ټـولـو مسلمـانـانـو زمـا لـوري تـه بـد بـد کـتل پـدې وخت کې چې زه د ابـوبـکر صدیق ❼ سره مخامخ شوم هغه هم راتـه بـد بـد وکـتل او بـلـې خواتـه را څخه لاړو بـیـا همداسې د حضرت عمر ❼ سره هم مخامخ شوم او هغه هم همداسې بـد بـد راتـه وکـتل او مـا ولـیـدل چې زمـا پـه اړه یـې د یـو انـصاري سره څه وویـل او هغه انـصاري بـیـا مـاتـه بـد بـد کـتل او راتـه یـې وویـل د الله دښمـنـه تـا رسول الله ☸ او د هغه صحابـه وو تـه ضرر رسولـی او تـا ددوی سره جنګونـه کـړي دي انـصاري پـه لـوړ اواز سره مـاتـه سپکې سپورې ویـلې چې ټـولـو مسلمـانـانـو مـاتـه پـه غصه کې کـتل پـدې وخت کې مـاتـه خپل تـره حضرت عبـاس د خلـکو پـه مـیـنځ کې ښکاره شو ما دهغه خواتـه ور مـنـډه کـړه او دهغه لـوري تـه د پـنـاه اخستلـو پـه نـیـت ورغلم او ورتـه مې وویـل ای زمـا تـره تـه پـوهېږې چې زه پـدې تـمـه وم چې کـه زه د اسلام قبـلـولـو پـه نـیـت پـیـغمـبـر تـه ورشم هغه پـه زمـا پـه اسلام خوشحال شي ځکـه چې دهغه سره زمـا ښه او نـېږدې خپـلـولـي ده او بـل دا چې پـه خلـکو کې زمـا د ښه مقـام لـه املـه بـه هغه زمـا اسلام تـه خوشحال شي او اوس هغه لـمـا سره خبـرې نـه کـوي او لـمـا څخه مخ اړوي خیـر دی تـه ورتـه ووایـه چې هغه لـمـا سره خبـره وکـوي زمـا تـره مـاتـه وویـل چې نـه ... زه خو و الله کـه ورتـه ووایـم چې لـتـا سره دې خبـره وکـوي مـا هغه تـه ډېـر مـنـت وکـولـو او ورځخه مې و پـوښتل نـو بـیـا زه چا تـه ورشم؟ تـه اوس مـا چاتـه پـرېـښودل غواړې او ګـوره زه لـتـا څخه نـور هېڅ هم نـه غواړم صرف رسول الله ☸ تـه ووایـه چې زمـا سره خبـرې وکـوي خو بـالآخره دده څخه هم زمـا څه کـار ونـشو چې پـه خلـکو کې حضرت علي ❼ را ښکاره شو هغه تـه ورغلم او

خپله قصه مې هغه ته تېره کړه خو د هغه جواب ماته همداسې وو لکه زما د تره حضرت عباس ❼ چې ځنګه وو زه بېرته تره ته راغلم ورته مې وويل چې نو بيا شه ده که ته د پيغمبر عليه السلام زړه زما لپاره نشې نرمولی نو بيا خو لږ تر لږه هغه کس ته خو ووايه چې ماته د نوري ښکنځلې نه کوي او زما سپکاوی دې بند کړي ماته تره وويل چې ته ماته را وښايه هغه کس څوک دی چې تاته خبرې کوي ... کله چې ما ورته وښودو نو تره مې راته وويل چې ښه دا خو نعمان ابن الحارث النجاري دی بيا مې تره هغه ته احوال ور ولېږلو او ورته يې وويل چې ګوره دا ابو سفيان ابن الحارث د رسول الله ﷺ د تره زوی دی او زما وراره دی که نن رسول الله ﷺ دده سره خفه دی يوه ورځ به لده سره خوشحال شي دا پرېږده (خبرې مه ورته کوه) زما تره هغه لما څخه تردې حده پورې منع کړو چې هغه وويل چې سمه ده زه به نور ده ته هېڅ هم نه وايم دا وخت تېرېدو چې رسول الله ﷺ جحفه مقام ته را ورسېدو (د مکې مکرمې نه اوس هم د څلورو ورځو منزل دی) زه يې د خيمې په دروازه کې کېناستلم او زما زوی جعفر زما په خوا کې و دريدو او اوس هم چې را سره مخامخ شو رسول الله ﷺ را څخه مخ تاو کړو خو زه اوس نا اميد نه وم او چې کله به هم هغه چېرته دمه وکوله نو زه به دده د خيمې مخې ته کېناستلم او زوی به مې مخې ته ودرېدو زه سخت پدې حالت کې تنګ شوم له ځان سره مې ويل زما د قسم په الله وي چې يا خو به رسول الله ﷺ زما لپاره خپله خوشحالي ښکاره کوي او يا خوبه زه دښتې ته ځم او په دښته کې به زه او زوی به مې دواړه پاتې کېږو تردې چې د لوږې او تندې نه مړه شو رسول الله زما چې دا خبره واورېده هغه له خپلې خيمې نه را ووتلو او ماته يې دا ځل ډېر په ځير ځير وکتل او زما په زړه کې را غله چې کېدی شي اوس

به مسکی شي لکن هغه جدي کتل او بیا یې راته وویل چې ابو سفیانه اوس په تا باندې څه ملامتي نشته هغه حضرت علي ❼ ته وویل چې دتره زوی ته دې ور وښیه چې هغه اودس څنګه وکوي اودس پرې وکوه بیا یې بېرته ماته راوله کله چې حضرت علي ❼ بېرته را وګرځېدو رسول الله ورته وویل چې خلکو ته اعلان وکوي چې زه د ابو سفیان څخه خوشحال یم دوی دې هم ترې خوشحال شي بیا چې پیغمبر علیه السلام مکې ته ننوتلو زه هم ورسره وم او هرځای ته به چې تلو زه به ورسره تلم او کوښښ به مې کول چې دده سره وم او په هېڅ صورت کې به ترېنه نه جدا کېدم تردې چې یو وخت داسې راغلو چې د حنین د جنګ وخت شو د عربو قبیلو د رسول الله ❁ د جنګ لپاره تیاری شروع کړو او ډېر کسان یې را ټول کړل په لوی قوت او طاقت سره مشرکین جنګ ته را مخې ته شول چې کله ما د مشرکانو زیادت او دهغوی زور ولیدو ما له ځان سره وویل چې زما د هم قسم په خدای وي چې نن به زه داسې کار کوم چې خپلې ټولې د پخوازمانې بدی له خلکو نه وربانديې هیرې کړم او داسې کار به کوم چې الله او دهغه رسول وربانديې خوشحال کړم کله چې دواړه لښکرې سره مخامخ شوې نو د مشرکینو فشار په مسلمانانو زیات وو حالت خراب شو او مسلمانانو حوصله د لاسه ورکړه او ځینې مسلمانان بې زړه شول خو ما رسول الله ❁ ولیدو چې توره یې په لاس کې وه او لکه د غر داسې کلک ولاړو وو او په خوا کې ورسره څه صحابه وو په جنګ باندې ښه ګرم آخته وو ما پدې وخت کې له خپل آس نه را ټوپ کړل او دده مبارک لوري ته ورغلم او دده په خوا کې مې جنګ شروع کړو په زړه کې مې غوښتل چې که د رسول الله ❁ په خوا کې مې شهادت نصیب شي زما تره حضرت عباس ❼ د رسول الله ❁ د قچرې واږې نیولې وې او په خوا کې ورسره ولاړ وو ما په ښې لاس باندې د رسول الله ❁ څخه دفاع

کوله او په چپ لاس مې دخپلې سپرلۍ واړې نیولې وې د رسول الله ﷺ په خوا کې ځای مې نیولی وو او چاته مې هم اجازه نه ورکوله چې لاس یې تر رسول الله ﷺ پورې را ورسیږي کله چې رسول الله ﷺ زما مقابله او په دښمنانو باندې زما پر له پسې ګذارونه وکتل نو یې زما له تره څخه پوښتنه وکوله (زما مخ ورته نه ښکاره کېدو) چې دا څوک دی؟ حضرت عباس ❼ ورته ویل چې د الله رسوله دا ستا ورور او ستا د تره زوی ابو سفیان ابن الحارث دی ته ترې خوشحال شه هغه وفرمایل چې زه ترې خوشحال یم او الله ② دده ټولې پخوانۍ غلطیانې ورته وبښلې چې له ما سره یې هرڅه کړي دي زه پدې خبر زیات خوشحال شوم او په رکاب کې مې د هغه پښه شکل کړه او په ژړا شوم هغه زه قرار کړم او ماته یې حوصله راکړه او ددېنه وروسته مو خپل خپل ځایونه ونیول او جنګ تر خپله وخته پورې ادامه پیدا کړه او ددې جنګ نه وروسته به زه د رسول الله ﷺ سره ډېر زیات خوشحال وم او دهغه سره به مې د خپل ژوند نه ډېره زیاته مزه اخسته خو دده تر آخره پورې د رسول الله ﷺ سترګو ته مخامخ نه وو کتلې دهغه شرم له امله چې ده په زړه کې دهغه کارونو له امله محسوس کولو چې ده له رسول الله ﷺ سره د جهالت په دور کې کړې وو خو اوس به ابو سفیان ❼ ټوله ورځ په تلاوت او د الله ② په ذکر او فکر باندې مصروف وو او ټوله ورځ به یې ددین په زده کولو کې کوښښ کولو یوه ورځ پداسې حالت کې چې هغه جومات ته ننوتلو رسول الله ﷺ د حضرت عائشه ❼ څخه پوښتنه وکوله چې ته پوهېږې چې دا څوک دی؟ هغې ورته وویل نه .. رسول الله ﷺ ورته و فرمایل چې دا زما د تره زوی حضرت ابو سفیان دی تر ټولو وړاندې جومات ته ځي او تر ټولو وروسته له جومات نه بېرته ځي .

د حضرت عمر ❼ د خلافت په زمانه کې چا ولیدو چې په بقیع کې یې قبر کېندلو او ښائسته کولو خلک حیران شول چې دی څه کوي؟ ددېنه دری ورځې وروسته د بیماري په حالت کې په کور کې پروت وو او د کور خلکو ورته ژړل ده وویل چې زما په حالت مه ژاړئ قسم دی چې دهغې ورځې نه چې ما اسلام قبول کړی دی ما بد کار نه دی کړی . ددې خبرې سره وفات شو ﷲ ② یې دې مرتبې لوړې کړي .

دښمني په دوستي بدليږي

د هجرت په شپږم کال رسول الله ﷺ وغوښتل چې دا خپله د دعوت حلقه لا پسې فراخه کړي نو ددې لپاره يې آته خطونه په شا او خوا ساحه کې د عربو بادشاهانو ته ولېږل او هغوی يې د اسلام لوري ته را وغوښتل پدې بادشاهانو کې يو ثمامة وو کوم چې د بني حنيفه قبيلې سردار وو او د يمامه علاقې بادشاه وو چا هم دده په اړه د مخالفت جرئت نشو کولی د ښه زور او طاقت خاوند وو ښه دبدبه يې وه .

ده ته چې کله د اسلام دعوت ورسېدو نو هغه پرې غصه شو او بالکل يې د اسلام دعوت ته د غوږ نېول و نه غوښتل او په زړه کې يې ارمان پيدا شو چې تللی وی او محمد يې وژلی وای او دده دا پروګرام يې بالکل سوزولی وای .

په زړه کې يې د اسلام سره کينه وه او انتظار يې کاوه چې وخت پيدا شي او دی د رسول الله ﷺ په خلاف باندې څه وکوي آخر د وخت تېرېدنې دا خبره دده له دماغ څخه وويستله او هېره يې شوه سره ددې چې دده په ترونو کې يو ځل يوه کس ور په ياده کړه خو بيا هم ده پرېښوده

خو په زړه کې به يې بيا هم پروګرامونه او پلانونه ساتل د همدې پروګرامونو په سلسله کې يې د رسول الله ﷺ يوګروپ صحابه په شهادت ورسول ددېنه وروسته رسول الله ﷺ دده د مرګ حکم وکولو .

د يو څه وخت نه وروسته ده تصميم ونيولو چې عمرې ته لاړ شي (دجهالت په وخت کې به دوی عمره داسې کوله چې مکې ته به راغلو په مکه کې يې بتان ايښي وو تر هغوی په را وڅرخېدل او بيا

به يې بتانو ته قرباني هم وکوله ددې سفر په دوران کې دده لاره په مدينه منوره باندې وه چې مکې مکرمې ته به راتلو په لاره کې يوه حادثه وشوه چې پدې اړه وړاندې کتنه (پيش بيني) نه وه شوې هغه دا چې پدې وخت کې په مسلمانانو له مدينې منورې نه په چاپېريال کې ګرځېدل چې څوک نا بلده به يې ولېدو نو پوښتنه به يې ترې کوله او د امنيت ساتلو لپاره دا يو ښه اقدام وو چې ګزمه به کېده او ددې ګزمه کونکو يوه ډله له ثمامه سره مخ شوه او دده نه يې پوښتنې وکولې خو دی يې بيا هم ونه پېژندلو ترديې را يې وستلو او په جومات کې يې تر يوه ستنه پورې کلک کلک وتړلو او ددې انتظار يې کاوه چې رسول الله ﷺ راشي چې هغه څه هدايت فرمايي .

رسول الله ﷺ چې کله جومات ته د ننوتلو په حالت کې وو پوښتنه يې وکوله چې تاسې ته معلومه ده چې دا تاسې څوک نيولی دی؟ دوی ورته وويل نه بيا رسول الله ﷺ و فرمايل چې دا خو ثمامة بن اثال دی او دا تاسې ډېر ښه کار کړی دی چې دا مو نيولی دی .


رسول الله ﷺ بېرته راغلو کور ته او خپل کور واله ته يې وويل چې څه مو پاخه کړي وي هغه جومات ثمامة بن اثال ته ور ولېږئ او شودې وربانډې و څښئ او دا ټول کارونه رسول الله ﷺ هغه وخت وکول چې تر اوسه پورې يې دده سره خبرې نه دي شوې او نه خويې لا تر اوسه ورسره کتلي دي . چې رسول الله ﷺ ورسره خبرې شروع کړې نو اول يې ترې پوښتنه وکوله (ددې نه مخکې تېر شول چې ده يوه ډله صحابه هم شهيدان کړي وو) د خپل ځان په اړه لتا سره څه دي چې ووايې؟ ده وويل چې ستاسې خوښه ده اوس که ما وژنئ نو هم زه ستاسې په اختيار کې يم اوس او که ما معاف کړئ ستاسې شکريه به کوم او که

چېرته تاسې پیسې غواړئ نو چې څومره تاسې غواړئ زه به هم دومره پیسې درکړم .

رسول الله ﷺ دی پرېښودو د دوو ورځو لپاره خو اوس یې هم خوراکونه ورلېږل او د خپلې اوښې شودې یې وربانډې څښلې دوه ورځې وروسته رسول الله ﷺ بیا ورته راغلو ورځخه یې وپوښتل چې د خپل ځان په اړه به څه ووایې؟ ده ورته بېرته خپل ځواب تکرار کړو بیا رسول الله ﷺ خپلو صحابه وو ته و فرمایل چې خلاص یې کړئ .

ثمامه د رسول الله ﷺ مسجد پرېښود او روان شو تردې چې د جومات نه لږ لرې د خورما باغ وو دې ځای ته را ورسېدو خپل اوښ ته یې اوبه ورکړې او خپل ځان یې وینځلو او ځان یې تازه کړو بېرته د رسول الله ﷺ مسجد خواته ور تاو شو او د مسلمانانو د ډلې په مخ کې ودرېد او په لوړ اواز یې د شهادت کلمه وویله او خپل اسلام یې اعلان کړو بیا د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو ورته یې وویل ای محمده ﷺ ! یو وخت ستا مخ زما لپاره په دنیا کې تر ټولو نه بد مخ وو او اوس ستا مخ زما لپاره په دنیا کې تر هر بل چا نه محبوب مخ دی ما ستاسې کسان شهیدان کړي دي او بیا زه ستاسې په ولکه کې راغلم تاسې راسره څه وکول؟ .

رسول الله ﷺ ورته وویل چې په تا باندې اوس هېڅ ملامتي نشته په اسلام کې داخلېدل پخوانې ګناهونه ختموي او د یوه نوي ژوند شروع کېږي .



د سختي نه وروسته تحفه

د هجرت په آتم کال رسول الله ﷺ يوه ډله مجاهدين د حضرت ابو عبيده ❼ په مشرۍ کې ولېږل او دوی ته يې يوه اندازه خورما د خوراک لپاره ورکړي دا کسان ډېر وو او خورماوي لږ وي نو يو څه وخت چې تېر شو نو په دوی باندې د خوراک کمی شو بيا دوی په فوځ کې د موجوده کسانو څخه اوښان اخستل او هغه به يې حلالول او د اوښ د مالک سره به يې وعده کوله چې کله مدينې ته بېرته و ګرځو نو بيا به درته ستا پيسي هلته درکوو چې يو څه وخت پداسي حالت کې هم تېر شو نو امير فکر وکاوه چې که مونږ همداسي حلالې کوو نو بيا خو به زمونږ سره د نقليه وسائلو او دسپرليو کمی راشي نو ځکه يې دا طريقه هم ودروله او په فوځ کې يې اعلان وکولو چې له چا سره په خپله توښه کې هرڅومره خورماوي پاتې وي هغه دې را ټولې کړي هغه يې ټولې تري جمع کړې او بيا به يې هر مجاهد ته د ورځې يوه خورما ورکوله چې دی پري زندګي وکوي او د مجاهد لپاره به همدا يوه خورما په ټوله ورځ کې وه ، کله چې حضرت جابر ❼ چې د همدې ټولي غړی وو قصه کوله چا تري پوښتنه وکوله چې ټوله ورځ به مو په يوه خورما څنګه ګذاره کوله؟ ده ورته وويل چې همدې يوې خورما ته به مونږ انتظار کولو او چې کله دا هم ختمې شوې نو مونږ به د وچو ونو پاڼې را ټولولې او هغه به مو په ا وبو کې نرمې کړې او بيا به مو خوړلې او کله چې حالات دې اندازې ته ورسېدل بيا هم اسلامي مجاهدينو هېڅ ډول شکايت نه کولو او دا هرڅه يې د ثواب ذريعه ګڼل او په ټولو تکليفونو باندې يې صبر کړی وو نو الله ② وربانديې خپل رحمت وکولو او د سمندر نه يې يو ډېر لوی ماهی پخپله د وچې خواته را وغورځولو او دا ډېر لوی وو او د ټول فوځ لپاره د خوشحالی ذريعه شو

پدي فوج کې به دری اوښان په یو وخت کې حلالیدل خو پدي ماهي باندي دوی آتلس ورځې گذاره وکوله او چې کله مدینې منورې ته د بېرته را گرځېدلو وخت شو نو ټولو تربنه خپل سامانونه ډک کړل او له ځان سره یې غوښه راوړه او چې کله دا خبره بیا رسول الله ته وښوه هغه ﷺ و فرمایل چې بس دا ماهی تاسې ته د الله له لوري نه برابر شوی وو .

ابو عبیده ابن الجراح

د ښه بدن خاوند وو لوړ قد یې وو ښکلي مبارکه ږنگی ږیره یې وه ځلانده او روښانه مخ یې وو چې مخ ته به یې چا کتل نو دخوشحالي احساس به یې کولو الله ② ورته روښانه مخ او ښکلي ځېره ورکړې وه او ددې ټولو سربېره حیا ناک او د حیا نه ډک انسان وو درونند طبیعت یې درلوده مسقیم طبیعت یې وو په سختو حالتونو کې هم هغه نه غصه شو او نه جدي په صفایي او تیز او عمل کې د توري د تېغ سره مشابه وو او ده ته د رسول الله امین هم ویل کیږي او د رسول الله ﷺ لپاره یې دمالي کا رکول او خزانه به له ده سره وه پوره نوم یې امیر ابن عبد الله ابن الجراح دی خو دی په ابو عبیده ابن الجراح سره مشهور شوی دی حضرت عبد الله بن عمر ❼ دده په اړه فرمایي چې په قریشو کې دری کسان (پس د پیغمبر نه) ډېر زیات بهترین خلک وو او چې کله به هغوی تاته خبرې کولې نو تاته به یې دوکه نه درکوله او چې کله به تا ورته خبرې کولې په تا باندې به یې د درواغو تور نه لگولو ١. حضرت ابو بکر صدیق ٢. حضرت عثمان ابن عفان ٣. حضرت ابو عبیدة ابن الجراح 📖 حضرت ابو عبیدة له هغه کسانو څخه دی چې د اسلام په شروع کې یې ایمان راوړی وو او د حضرت ابو بکر صدیق ❼ څخه یوه ورځ وروسته په

اسلام مشرف شوی دی په حقیقت کې دی د ابو بکر صدیق ❼ په وجه مسلمان شوی دی حضرت ابو بکر صدیق ❼ دی، عبد الرحمن ابن عوف، عثمان ابن ماذون او ارقم بن ابي الارقم ټول رسول الله ﷺ ته وروستل او هلته دوی ټولو په یو ځای اسلام قبول کړو ددوی مسلمانېدل په اسلامي تاریخ کې ډېره لویه کامیابي وه او د خوشحالی خبره وه ټول د ښې نظریې او ښه فکر خاوندان وو حضرت ابو عبیده ❼ د هغه ټولو تکلیفونو برداشت وکولو چې د اسلام په سر کې په مسلمانانو باندې تېرېدل او د ټولو تکلیفونو یې په مینه سره مقابله کوله او په خپل اسلام او ایمان کې ډېر زیات کلک او د پخې عقیدې مالک وو دې ټولو تکلیفونو او زحمتونو دی یوه ذره هم له خپل هدف نه لرې نه کړو د ښه استقامت مالک وو او دهغه د شهامت او د غیرت د نښو نه یوه دا هم وه چې دی بدري وو دی له هغه کسانو څخه وو چې په بدر کې شرکت کړی وو او د هغه کسانو له جملې څخه وو چې د اسلام د تاریخ یو تاریخي جنګ بدر یې ګټلی وو حضرت ابو عبیده په مختلفو غزاګانو کې شرکت کړی دی او اکثر وخت به یې مشري هم په غاړه وه او داسې کس وو چې د مرګ نه بالکل په زړه کې ویره نه وه ټول قریش دده څخه زیات په ډار کې وو او ټول عمر به یې دده سره د مخامخ کېدلو څخه ځان ژغورلو کله چې په بدر کې یو کس په دده مبارک پسې شو حضرت ابو عبیده ❼ ډېر کوښښ وکولو چې ددې کس سره د جګړې کولو څخه ځان وژغوري لکن هېڅ شی کېدل ممکن نه وو آخر دا چې دا کس پدې باندې کامیاب شو چې د حضرت ابو عبیدة لاره ونیسي او دهغه مخې ته ورشي بیا هم حضرت ابو عبیده ❼ ددې کس سره جنګ کول نه غوښتل خو هغه کس بالکل دده سره مخامخ وو نو د مقابلې نه بغیر بله لاره نه وه نو حضرت ابو عبیده صرف یو وار ور پرېښودو او هغه کس یې

په سر باندې ووهلو په هماغه ځای باندې و غورځېدو او هلاک شو او دا کس څوک وو؟ او ابو عبيده ولې دده د جنګ څخه ځان غړولو؟ ولې تر آخره وخته پورې ابو عبيده صرف خپل ځان خلاصولو او دفاع يې کوله؟ ددې پوښتنو ځواب لېر مشکل دی خو صرف يو تکی يې ځواب دی چې دا کس عبدالله ابن الجراح د حضرت ابو عبيده ابن الجراح پلار وو او ده کله هم نه غوښتل چې خپل پلار قتل کړي تر آخره وخته پورې ده دخپل ځان دفاع کوله خو هغه د ده وژل غوښتل .

او همدې واقعې ته په قران کريم کې اشاره شوېده چې الله ② فرمايي (په هغه کسانو کې چې په الله او د قيامت په ورځ ايمان لري ته به داسې کسان پيدا نه کړې چې دهغه کسانو سره دوستي وکوي چې هغوی د الله او دهغه د رسول دښمنان دي اګر که هغه کسان ددوی پلرونه وي يا يې زامن وي يا يې ورونه وي او يا يې مشران وي الله د دوی په زړونو کې ايمان ور اچولی دی او دوی يې په خپل قدرت سره کلک کړي دي او دوی ته يې استقامت ورکړی دی ....) سورت مجادله آية ۲۲)

په بدر کې د ابو عبيده ❼ د خپل پلار سره داسې مخامخ کېدل څه عجيبه خبره نه وه ځکه چې دهغه په زړه کې د الله ② مينې او په هغه باندې کلک ايمان ځای نيولی وو او ابو عبيده ❼ شه او بد کار صرف د همدې ايمان په واسطه پېژندل او هغه څه به ورته ښه ښکاره کېدل کوم به چې دده ايمان ته ښه ښکاره کېدل او هغه څه به ورته بد ښکاره کېدل چې دده ايمان ته به بد ښکاره کېدل .

حضرت محمد ابن جعفر ❼ روايت کوي چې د نصاراوو يوه ډله رسول الله ته راغله ورته يې وويل چې ای ابالقاسم مونږ تاسې مسلمانانو ته

ډېر د احترام په نظر ګورو زمونږ په مینځ کې څه لانجه ده ته زمونږ سره یو کس ولېږه داسې کس را سره ولېږه چې هغه ستا خوښ وي چې هغه زمونږ په مینځ کې په هغه لانجه کې فیصله وکوي رسول الله ﷺ ورته وویل چې تاسې بیا وروسته راشئ زه به یو ځوک درسره ولېږم چې هغه به ښه فیصله هم وکولی شي او په هغه باندې تاسې هر ډول اعتماد هم کولئ شئ حضرت عمر ❼ دا خبرې آورېدې بیا هغه وروسته وویل چې زه د ماسپښین مانځه ته وختي لاړم او تمه مې وه چې رسول الله ﷺ به ما انتخاب کړي کله چې رسول الله ﷺ مونځ ختم کړو خپل ښي او چپ طرف ته یې کتل شروع کړل ما هم خپل ځان لږ پورته کړو چې رسول الله مې ووینې هغه زه ولیدم او بیا یې هم لا یو بل خوا ته کتل تردې چې ابو عبیده بن الجراح ته یې اشاره وکوله او ورته یې وویل چې ته له دوی سره لاړ شه او ددوی په مینځ کې چې کومه لانجه ده دهغې په اړه ددوی په مینځ کې د حق فیصله وکوه .

حضرت ابو عبیده ❼ د پوره اعتماد کس وو د مشرې کولو ښه صلاحیت پکې وو لکه پ مخکې قصه کې چې تېر شول رسول الله ﷺ دی د څه صحابه وو په مشرې کې یو ځای ته د کوم کار لپاره لېږلی وو هلته د خوراکي توکیو کمبود وو او اسلامي فوځ د لوږې سره مخامخ شو ده به خپلو کسانو ته په ډېر سم ترتیب سره د ورځې یوه خورما د یو کس په سر ورکوله او بیا یې ورته ویل چې دا به داسې خورئ لکه ماشوم چې دمور له سینې نه شودې څنګه خوري او بیا به پسې اوبه څښې نو دا به ستاسې لپاره کفایت کوي.

حضرت ابو عبیده ❼ به کوښښ کاوه چې په هره صحنه کې د رسول الله ﷺ سره ملګری پاتې شي او دهغه سره په هره واقعه کې شریک شي کله چې

رسول الله ﷺ وفات شو د عامو صحابه وو په څېر حضرت ابو عبيده ؓ هم ډېر زيات په غم کې وو صحابه ؓ د خليفه د مقرر کولو لپاره سره را غونډ شول په يو ځاى کې چې د بنو سعاده د خلکو د مجلس ځاى وو او سقيفه يې ورته ويل او دا ورځ په تاريخ کې د يوم سقيفه په نوم سره شهرت لري پدې ورځ باندې حضرت عمر ؓ حضرت ابو عبيدة ؓ ته ويل چې لاس دې راکړه .. دهغه لاس يې په لاس کې ونيولو او ورته يې وويل چې زه په رشتون ولي سره قسم خورم چې ما در سول الله ﷺ نه آورېدلي وو چې هغه ويل د هر امت لپاره يو امين وي او ابن جراح ددې امت امين دى بيا ددېنه وروسته د حضرت ابو بکر صديق ؓ سره د بيعت کولو سلسله شروع شوه او حضرت ابو عبيده هم ورسره بيعت وکولو او ښه په ايمانداري سره يې دهغه متابعت کولو او د هغه نېږدې مشاور وو او هغه به دده سره ه په هرڅه کې مشوره کوله او ده به دهغه سره په هر کار خير کې مرسته کوله کله چې حضرت ابو بکر صديق ؓ وفات شو او د حضرت عمر د خلافت دور شو نو بيا ده دهغه سره بيعت وکولو بيا يې دهغه په پوره مينه سره متابعت او تابعداري کوله کله چې دى سوريې ته د مسلمانانو د لښکر د امير په توګه ولېږل شو ده اسلامي لښکر يو په بله پسې د کاميابي لوري ته بوتلو او ښې کاميابى يې ورته راوړي تردې چې ټوله سوريه د مسلمانانو تر واکمنى لاندې راغله او حضرت ابو عبيده ؓ کله هم د خپل مشر د امر نه سر نه وو غړولى خو پدې وخت کې د سوريې علاقه تر طاعون لاندې راغله او وبا پکې ګډه شوه نو ځکه پدې وخت کې يو ځل ورته د امير المومنين له لوري نه خط راغلو چې پکې ليکلي وو (ته دلته ضرور په کار يې او تېز راشه چې کله دا خط د شپې درته ورسېدو د سحر را ختلو نه وړاندې راشه او که

دا خط د ورځې درته ورسېدو د شپې د شروع کېدو نه وړاندې را روان شه) دا خط چې کله حضرت ابو عبيده ته ورسېدو ويې ويل چې خليفه د داسې چا ساتنه کول غواړي چې هغه پاتې کېدونکی نه دی او بيا يې حضرت امير المومنين ته وليکل (زه پوهېږم چې زه ستا په کار يم خو تاته معلومه ده چې زه د مسلمانانو د لښکر سره د امير په شکل کې راغلی يم زه خپل ځان داسې ساتل نه غواړم چې دوی دې لا په خطر کې وي او ترڅو چې د الله ② خوښه وي زه به ددوی نه بېل نه شم نو چې دا خط کله درته ورسېدو ستاسې به مهرباني وي ما ددې حکم نه خلاص کړه او ماته اجازه راکړه چې دلته پاتې شم) حضرت عمر ❼ چې دا خط ولوستلو اوښکې يې په مخ باندې را تويې شوې د مجلس خلکو ترې پوښتنه وکوله چې ابو عبيده ❼ شهيد شوی دی ای امير المومنين ؟ ده وويل نه بلکه مرګ ورته نېږدې راغلی دی ... د حضرت عمر ❼ اندازه لګول غلط نه وو د يو څه لږ وخت د تېرېدلو نه وروسته حضرت ابو عبيده ❼ ته د طاعون بيماري ور ورسېده او ترديې چې وفات شو خو د وفات په وخت کې يې د خپل لښکر کسانو ته و فرمايل چې ای خلکو زما خبره واورئ ما ته اجازه راکړئ چې يو څو داسې نصيحتونه درته وکوم چې تاسې ورباندې عمل وکوئ نو تاسې به په سمه لاره سم کړي (مونځ کوئ، د رمضان روژه نيسئ ، خيراتونه کوئ، حج او عمره کوئ، په اتحاد سره اوسېږئ او يو د بل مرسته کوئ ، د خپل امير اطاعت کوئ او دهغه نه سر غړونه مه کوئ ، د دنيا په فريب خطا نه شئ که په تاسې کې څوک زر کاله هم ژوندی پاتې شي بيا به هم پدې لاره ځي چې په کومه باندې اوس زه روان يم) ددې نصيحت نه وروسته يې مخ معاذ ابن جبل ❼ ته ور واړولو او ورته يې وفرمايل ای معاذه د خلکو امامت کوه (ته ددوی مشر شوې) ددې خبرې په کولو سره دده پاک روح

دده لـه بـدن څخه ووتـلو ، ﷲ ② يـې دي مـرتـبـې لـوړې کـړي .




د جازان قصه

حضرت عبد الله بن مسعود ❼ په کوفه کې په یو ځای باندې تېرېدلو چې هلته خلک را ټول شوي وو پروګرام یې جوړ کړی وی او جازان د موسیقي د کومې آلې غږونکی وو او خپله یې هم ورسره اواز ویلو حضرت عبدالله بن مسعود ❼ لږ په تللو کې ورته حصار شو او چې دهغه اواز یې واورېدو نو یې وویل چې ښکلی اواز لري څومره به ښه وای چې پدې اواز سره یې د قران خدمت کړی وی او بیا یې خپل سر ښکته کړو او ترې تېر شو .

چې کله عبد الله ابن مسعود ❼ لاړو نو جازان له چا څخه پوښتنه وکوله چې دا کس څوک وو او څه یې وویل ؟ چا ورته وویل چې دا د رسول الله ☸ ملګری عبد الله من مسعود ❼ دی او ده ویل چې ستا اواز ډېر ښکلی دی کاش پدې اواز سره تا د قران خدمت کړی وای


د حضرت عبدالله ابن مسعود ❼ دې تبصرې دده په زړه باندې تاثیر وکولو او د موسیقي کومه آله یې چې په لاس کې وه هېسته یې وغورځوله او په عبد الله ابن مسعود ❼ پسې یې منډه کړه په هغه پسې ورسېدو او دهغه په خدمت کې و درېدو او په ژړا شو حضرت عبد الله ابن مسعود ❼ هم هغه ځان ته را نېږدې کړو او ددېنه وروسته بیا هغه توبه وویستله او او د حضرت عبد الله ابن مسعود ❼ په خدمت کې پاتې شو او دهغه نه به یې علوم او دیني مسائل زده کول تردې چې د هغه وخت ښه عالم ترې جوړ شو



تــه ولــې خــانــدې؟

حضرت حسن بـصري رحـمـه الله د خـپـلـې زمـانـې يـوه ښه عـالـم او د ښې تـقـوی مـالـک شخصيت وو پـه تـقـوی پـرهـيـزگـاري او عبـادت کـولـو کـې يـې ځـانـگـړی شهـرت درلـود او لـري يـې او ده کـلـه هـم پـه ډکـه خـولـه نـه وو خـنـدلـي او د مـرگ ذکـر او يـاد بـه دی خـنـدا تـه نـه پـرېښودو يـوه ورځ چې پـه لاره بـانـدې روان وو نـو يـو ځـوان يـې ولـيـد چې خـنـدل يـې ده ورڅخه پـوښتـنـه وکـولـه چې تـا تـراوسه پـورې دا فـکـر کـړی دی چې تـه بـه يـو وخت پـه صراط بـانـدې هـم تـېرېـږې؟ تـا کـلـه دا فـکـر کـړی دی چې کـلـه حساب کـتـاب ختـم شي تـه بـه جـنـت تـه او کـه دوزخ تـه لـېږل کـېږې؟ هغـه ځـوان ورتـه وويـل چې نـه ... حضرت حسن بـصري رحمـه الله ورتـه ويـل نـو بـيـا داسې ولـې خـانـدې ؟ ددېـنـه وروسـتـه بـه هغـه ځـوان بـيـا بـالـکـل نـه خـنـدل او هغـه پـدې پـوه شو چې پـه رښتـيـا کـې ددې ژونـد حقـيـقـت څه دی .

مـونـږ هم چې کـلـه هـم پـه ډکـه خـولـه خـانـدو نـو ددې مـطـلـب دادی چې مـونـږ تـه خـپـل مـرگ پـه زړه نـه دی او هغـه مـو هـېـر کـړی دی صحابـه 📖 بـه چې ټـولـه ورځ پـه نـيـکـو کـارونـو بـانـدې آختـه وو خـو چې کـلـه بـه شپـه شوه نـو بـيـا بـه يـې الله تـه ژړل او دخـپـلـو گـنـاهـونـو پـه اړه بـه يـې تـوبـه ويـسـتـه او د الله ② نـه بـه يـې غـوښتـل چې کـه ددوی نـه څه قسم خطا شوې وي نـو مـعـاف يـې کـړه او د الله ② نـه بـه يـې د آخرت د ښېگـڼـې پـه اړه سوال کـولـو او ددې پـه څـپـه مـونـږ چې ټـولـه ورځ گـنـاهـونـه کـوو بـيـا مـو هـم نـه زړه د ژړا لـپـاره نـرم شو او نـه مـو د الله پـه دربـارکې کـومـه اړ[illegible] ه .



رښتونی امیر

حضرت عمر ❼ یوه شپه د خپل عادت مطابق په کوڅو کې د خلکو د حالاتو د معلومولو لپاره ګرځېدو او دده غلام هم ورسره وو پدې دوران کې دوی هارا نومي ځای ته ورسېدل د مدېنې په چاپېریال کې او په دښته کې یې ولیدل چې اور بلیږي دوی وویل چې دا ښکاري چې کومه قافله ده او ښار ته له رسېدو وړاندې ورباندې شپه راغلې ده راځه چې ورشو وګورو که یې څه خدمت په کا روي ورته وبه یې کوو او که یې کوم شی په کار وي نو مونږ به ورسره مرسته وکوو.

چې دوی هلته ورغلل ګوري چې یوه ښځه ده په اور یې د اوبو نه ډک کوم شی باندې کړي دي او ماشومان په خوا کې ورسره ناست دي حضرت عمر ❼ ورباندې سلام واچولو او د نېږدې ورتللو اجازه یې ترې وغوښته هغې ورته اجازه ورکړه او دی نېږدې ورغلو (هغې ښځې نه پېژندلو چې دا حضرت عمر ❼ دی)

حضرت عمر: دا ماشومان ولې ژاړي؟

هغه ښځه : ځکه دا وږي دي .

حضرت عمر: پدې اور باندې دیګي کې څه شی دي؟

هغه ښځه : پدې کې خالي اوبه دي ماشومان پرې غلطوم دوی ته مې په ذهن کې دا ورکړي چې پدې کې د خوراک څه شی دي او دوی به په انتظار انتظار کې ویده شي الله به زما او د حضرت عمر په مینځ کې د قیامت په ورځ فیصله وکوي .

حضرت عمر په ژړا کې ورته وویل چې ای الله د په تا ورحمیږي حضرت عمر ستا د حال نه څه خبریږي؟ .

هغه ښځې ویل چې هغه زمونږ امیر دی هغه باید له مونږ نه ځان خبر کړي .

حضرت عمر ؓ بېرته ښار ته را وګرځېدو او یوه بوجۍ یې د اوړو، خورماوو، غوړیو او نورو ضروري شیانو څخه ډکه کړه او یو څه پیسې یې ورسره واخستې بیا یې خپل غلام ته وویل چې دا بوری اوس ماته را په شا کړه .


غلام ورته وویل چې نه امیر المومنین ماته یې را په شاه کړه .

امیر المومنین ورته وویل چې نه دا زما پیټی دی او زه به یې په شا کوم غلام ډېر ټینګار وکولو چې نه ماته یې را په شا کړه لکن حضرت عمر کلک شو چې نه زه یې خپله په شا کوم او ورته یې وویل چې آیا ته کولی شې په آخرت کې زما پیټی ته په شا کړې؟ او ددې ښځې په اړه به په آخرت کې زما څخه پوښتنه کیږي .

حضرت عمر ؓ دا بوری راوړه د زړې ښځې خیمې ته او یو څه غوړي څه اوړه او څه خورما یې په لوښي کې واچول او په اور یې کېښودل او په خپله یې اور ته پوکی ورکولو چې اور ولګوي غلام وایي چې ما لوګی لیدو چې د حضرت عمر تر ږیره لاندې راوتلو یو څه وخت ورسته یو ښه خوراک د حلوا په شکل کې تیار وو په خپلو لاسونو یې په ماشومانو باندې خوراک وکولو او ماشومانو دومره خوراک وکولو چې دوی پرې ښه ماړه شول او دوی ته یې لږ نور تیار کړو ورته یې وویل چې دا ستاسې د بل ځل خوراک لپاره ماشومان زیات خوشحاله وو او په خپلو کې سره لوبې کول شروع کړې .

زنانه ډېره زیاته خوشحاله وه او ده ته یې وویل چې الله ② د تا ته ستا د مهربانۍ اجر درکړي او په رښتیا چې د عمر په ځای ته د خلافت قابل یې ده ورته وویل چې ته د خلیفه ځای ته

راشې نو هلته به ما هم ووينې بيا د يوځه وخت لپاره هلته نېږدې کېناستلو بيا را روان شو مدينې ته په لاره کې يې غلام ته وويل چې ته پوه شوې زه هلته ولې کېناستم؟ ځکه چې ما دا ماشومان په ژړا کې ليدلي وو ما غوښتل چې په خندا کې يې هم ووينم بيا د شپې کافي برخه تېره شوې وه چې مدېنې منورې ته راغلل الله ② دې د حضرت عمر درجې لوړې کړې ، اى حضرت عمره تا داسې خلافت وکولو چې دتا نه وروسته يې بيا مثال پيدا نه شو کاش چې د پاتې امت د مشرانو په زړونو کې ستا مهرباني او عدالت سلمه برخه هم واى نو اسلامي امت به دمختلفو بدبختيو ښکار نه کېدو .



حضرت ابو الدرداء

کله چې سحر وختې حضرت ابو الدرداء د خپل بت خواته ورغلو چې د کور په قیمتي برخه کې یې ساتلی وو او هغه ته یې سلام وکولو او احترامات یې ورته په ځای کړل او په هغه باندې یې هغه قیمتي جامه خپره کړه چې دوه ورځې وړاندې ورته یو تجار له یمن څخه راوړې وه نو د کور نه د بازار په لوري راووتلو پدې ورځ په کوڅو کې د بدر نه د را ګرځېدلو ځوانانو شور وو چې جنګي بندیان ورسره وو ابو الدرداء ددې رش نه تېر شو بیا یې د یو خزرجي ځوان څخه د عبد الله بن رواحه چې دده زوړ ملګری وو په اړه وپوښتل چې هغه څنګه او چېرته دی هغه وویل چې د جنګ په صحنه کې هغه په ډېر سخت ځای کې را ګېر شوی وو خو بیا په امن سره ترې را خلاص شو ابو الدرداء چې د خپل زاړه ملګري په اړه واورېدل چې سخت را ګېر شوی وو نو زیات خفه شو او ددوی دواړو ملګري او ورور ګلوي په مدینه کې د جاهلیت په زمانه کې له چا نه هم پټه نه وه پاتې دواړه ډېر خواړه دوستان وو لکن کله چې اسلام مدینې منورې ته راغلو حضرت عبد الله بن رواحه قبول کړو او ابو الدرداء رد کړو خو دې خبرې بیا هم ددوی په مینځ کې تعلقات خراب نه کړل بیا به هم حضرت عبد الله بن رواحه ورتللو او د ابو الدرداء سره به کېناستلو هغه ته به یې د اسلام د فایدو په اړه ویل او هغه ته به یې د اسلام لوري ته بلنه ورکوله او دلائل به یې ورته وړاندې کول لکن چې ابو الدرداء به ترېنه انکار کولو پدې سره به عبد الله بن رواحه زیات خفه کېدلو پدې ورځ ابو الدرداء لاړو خپل دکان ته او کېناستلو اخستل او خرڅول یې شروع کړل په خپل تجارت کې مصروف شو حضرت عبدالله بن رواحه د حضرت ابو الدراء کور ته راغلو ام الدرداء په کور کې

په صحن کې وه سلام يې ورباندې واچولو او پوښتنه يې وکوله چې ابو الدرداء چېرته دی هغې ورته وويل چې د ابو الدرداء ورور‌ه سلام دې په تا باندې وي هغه خو دکان ته تللی دی حضرت عبدالله بن رواحه ❼ سيده هغه کوټې ته لاړو چېرته چې هغه بت ايښی وو چې دوی به يې عبادت کولو او دا بت يې را واخستلو ورته يې وويل چې دا هغه شی دي چې د الله ② سره دده عبادت کيږي؟ او پدې سره يې په بت باندې د ماتولو شروع وکوله او چې بت يې ښه مات کړو نو بيا له کور نه ووتلو دده له وتلو وروسته چې ام الدرداء هغه کوټې ته ورغله نو يې وليدل چې بت ټوټې ټوټې په غولي پروت دی نو په ژړا شوه او په چيغو چيغو يې ورته ژړل چې کله د ابو الدرداء د راتلو وخت شو نو ام الدرداء په دروازه کې ناسته وه او په چيغو چيغو يې ژړل دده ترې پوښتنه وکوله چې ولې ژاړې؟ دې ورته وويل چې ستا ورو عبد الله بن رواحه راغلی وو مونږ دلته نه وو او چې لاړو مونږ وليدل چې ستا بت يې مات کړی دی ډېر زيات غصه شو او جذباتې شو او په زړه کې يې د انتقام لمبې بلې شوې او يو څه وخت چې تېر شو لږ يې دماغ په ځای شول نو يې فکر وکاوه چې که پدې بت کې څه کمال وای نو د خپل ځان ساتنه به يې کړې وه او همدې خبرو يې په زړه کې حرکت پيدا کړو او سيده لاړو د حضرت عبد الله بن رواحة کور ته او هغه يې تر لاس ونيولو او دواړه د رسول الله ﷺ خواته ورغلل او هلته يې اسلام قبول او اعلان کړو دهغه نه وروسته يې خپل ټول ځان د اسلام خدمت ته وقف کړو په الله او د هغه په رسول باندې ايمان دده په ژوند کې ډېر بدلون راوستلو او دده به هروخت په هغه صحنو باندې خفگان ښکاره کولو چې دده دجاهليت په زمانه کې تېرې شوې وې او دده به ارمان کاوه چې د نېکو کارونو څخه پاتې شوم او هغه اوس پدې هم پوی شوی وو چې

دده ملګرو پدې دوو او دریو کلونو کې د اسلام په باره څومره څه زده کړې وو دوی څومره قران زده کړی دی او دوی څومره الله ② او دهغه پیغمبر ته نیږدې شوي دي ... ده په خپل ذهن کې هوډ او اراده وکوله چې اوس به د شپې او ورځې کوښښ کوي چې هغه څه لاس ته راوړي چې دده څخه تېر شوي دي د الله ② عبادت دده د شپې او ورځې د پروګرام مهمه برخه شوه او د دیني علومو د زده کړې لپاره ددوی کوښښ نه ستومانه کېدونکی او نه ستړی کېدونکی وو ده به زیات وخت پدې کې مصرف کولو چې د قران کریم په اړه معلومات لاس ته راوړي او د هغه په معنی مطلب او پیغام باندې ځان پوره پوه کړي کله چې ده ته ښکاره شوه چې تجارت او د دنیا کارونه دی له الله او د هغه له عبادت څخه لري ساتي نو خپل فعالیتونه یې په تجارت کې بالکل کم کړل او ډېره لږ توجه به یې ورته کوله او نور خپل وخت به یې اکثر په ذکر او عبادت کې تېرولو چا تري پوښتنه وکوله چې په تجارت کې د خپله توجه ولې کمه کړه؟ ده ورته وویل چې زه د ښه تجارت مالک وم د اسلام نه وړاندې خو د اسلام نه وروسته مې غوښتل چې عبادت او تجارت دواړه وکوم لکن زه پدې خپل مقصد بریالی نه شوم او پوه شوم چې دین او دنیا دواړه نه سره کیږي نو ځکه مې د عبادت لپاره د تجارت لوري ته خپله توجه کمه کړه .

ده به ویل چې زما د په هغه ذات قسم وي چې د ابو الدرداء روح د هغه په لاس کې دی چې زما په زړه صرف دا یو ارمان دی چې ددې جوماتسره نیږدې مې دکان وای او هر مونځ مې په جمع سره په جوماتکې کولی او خیر دی لږ ګټه مې دې کولی .

حضرت ابو الدرداء ❼ نه یوازي دا چې په تجارت کې خپله دلچسپي کمه کړه بلکه په دنیایي تولو کارونو کې یې خپله علاقه تر شوني حده پوري کمه کړه او داسي جامي به یې آغوستلي چې صرف د پردي لپاره بس کېدلي او دده د بدن پرده وربانديې کېدله او داسي خوراک به یې کولو چې صرف دی وربانديې ژوندی پاتې کېدلو .

یو ځل د یخنی موسم وو او دده کور ته څه مسلمانان مېلمانه راغلل ده ورته ښه خوراک ورکړو خو چې د ویده کېدلو وخت شو نو هېڅ شی یې ورنه کړو چې دوی پکې د یخ نه پټ شي مېلمانه په زړه کې خفه شول چې دا شپه به څنګه تېریږي په مجلس کې یو کس وویل چې زه ورځم ورڅخه پوښتنه کوم نورو ورته وویل چې نه مه ورځه خو دا کس ورغلو او د ابو الدرداء ❼ د کوټې خواته ورغلو چې ویې کتل چې حضرت ابو الدرداء ❼ په غولي پروت دی او ښځه یې ورسره په خوا کې ناسته ده او دواړه په معمولي جامو کې پټ دي او کمپلې ورسره نشته حضرت ابو الدرداء ❼ مېلمه ته وویل چې که څه وای نو اول به مو تاسي ته درکړي وو خو زمونږ په کور کې کمپلې نشته دي .

د حضرت عمر ❼ د خلافت په زمانه کې حضرت عمر ❼ ده ته وویل چې ته به په سوریه بانديې والي شې ده ددې وظیفې د اخستلو څخه انکار وکولو چې کله حضرت عمر رضی الله ② وربانديې ټینګار وکولو نو بیا ده ورته وویل چې که ته ما ددې لپاره هلته ورلېږې چې زه د دوی امامت وکوم او دوی ته قران ور وښیم نو زه به لاړ شم بیا حضرت عمر ❼ ورته وویل چې صیح ده ددې لپاره تاسي لاړشئ بیا هم ښه ده .

د امامت لپاره هغه دمشق ته روان شو چې کله دمشق ته ورسېدو نو هلته يې وکتل چې خلک د عيش نه ډک ژوند کوي او په ژوند کې يې په زړه پورې راحتونه راغلي دي نو پدې خبره حضرت ابو الدرداء رضی الله ② خواشيني شو او خلک يې په جومات کې را ټول کړل او خبرې يې ورته شروع کړې او ورته ويل يې (ای د دمشق خلکو تاسې په دين کې زما ورونه ياست ، زما داسې ګاونډيان ياست چې يو له بل سره نېږدې اوسېږو او د ددښمن په مقابل کې يو له بله سره مرسته کوو زه په داسې حال کې تاسې ته نصيحت کوم چې زه لتاسې څخه د نصحيت په بدل کې هېڅ شی نه غواړم نو بيا تاسې زما خبره ولې نه منئ ايا دا سمه خبره ده چې زه په سترګو ګورم چې هغه کسان چې زده کړه يې کړې وي په داسې حال کې له دنيا نه ځي چې جاهل کسان لا همداسې جاهل پاتې دي او زده کړه نه کوي؟ ماته ښکاره کيږي چې الله ② به د ځه شيانو په اړه ستاسې نه ځواب غواړي ، د څه شيانو څخه يې تاسې بند کړي او منع کړي ياست ، آيا دا ښه کار دی چې زه تاسې وينم چې داسې څه جمع کوئ چې هغه تاسې نه خورئ ، داسې تعميرونه جوړوئ چې تاسې پکې نه اوسېږئ ، داسې اميدونه ساتئ چې تاسې ورته نه رسېږئ ستاسې نه مخکې په دې دنيا کې خلک وو چې مالونه يې جمع کړي وو تعميرونه يې جوړ کړي وو د ځان لپاره يې سهولتونه جوړ کړي وو خو څه ډېر وخت تېر نه شو چې هغه هرڅه هلاک شول او دهغوی کورونه د هغوی په قبرونو باندې بدل شول دا عاديان وو .

ای د دمشق خلکو هغوی ټول د هرڅه مالونو او ماشومانو سره هلاک او ختم شول اوس څوک داسې شته چې د عاديانو څخه څه شی پاتې شوي دي هغه هرڅه زما څخه په دوه درهمه واخلي؟ خلکو داسې ژړل چې ژړا يې تر مسجد بيرون هم آوريدل کېدله

ددي ورځې نه وروسته خلکو هلته ابو الدرداء په ښه معنی و پېژندلو او حضرت ابو الدرداء ❼ خپل کوښښ شروع کړو او داسي مجلسونه جوړول یې هم زیات کړل په کوڅو کې ، په بازارونو کې او په لارو کې ، د مجلس په ځایونو کې ګرځېدو او خلک یې را ویښول او را پورته کول او سمې لارې ته یې برابرول .

یوه ورځ حضرت ابو الدرداء ❼ په لاره تېرېدلو چې ډېر خلک یې ولیدل چې د یو کس نه را ټول شوي دي او هغه ته ښکنځل کوي او هغه وهي حضرت ابو الدرداء ❼ ورته ودرېد پوښتنه یې وکوله چې دلته څه روان دي؟ چا ورته وویل چې دا کس غل دی او د قبرونو څخه کفنونه پټوي .

ده ورڅخه پوښتنه وکوله چې که دا کس په کوهي کې و غورځېږي تاسي ورسره څه کوئ؟ آیا تاسي به دده د راوېستلو کوښښ نه کوئ؟ نو دا کس چې پدې مصیبت کې آخته دی تاسي ددې کوښښ وکوئ چې دی ترې وباسئ ده ته داسي خبرې او نصیحت وکوئ چې دا پرېږدي او بیا تاسي خپله هم د الله ② شکر و باسئ چې تاسي یې داسي نه یئ کړي چې غلاګانې وکوئ ابو الدرداء ❼ خلکو ته وویل چې دا تاسي مه وهئ صرف دا یو غلط کار دی که ده دا ګناه کول پرېښوده نو دا خوبیا زما ورور دی ، هغه کس په ژړا شو او د حضرت ابو الدرداء مخې ته راغلو او د ټولو خلکو په وړاندې یې توبه وویسته .

یوه ورځ یو ځوان حضرت ابو الدرداء ❼ ته راغلو ورته ویل یې ماته نصیحت وکوه ای د رسول الله ☸ ملګریه ! ده ورته وویل بچیه ! په یوازې توب کې د الله ② عبادت کوه چې کله تکلیف دربانديږ راشي هغه به درسره مرسته وکوي ، ای

بچیه ! هوشیار شه علم زده کړه جاهل مه پاتې کیږي هغه خو تباهي ده ، بچیه ! جومات باید ستا کور وي ما د رسول الله ﷺ څخه آورېدلي دي هغه فرمایل چې جومات به د هغه چا کور وي چې چاته د الله معرفت حاصل وي او د چا چې کور جومات وي الله ② به هغه ته خپلې سمې لارې ته هدایت نصیب کړي او هغه ته به په زړه کې اطمنان او سکون په ژوند کې نصیب کړي .

په یو بل ځای کې کسان وو چې هغوی به د لارې په سر کېناستل او خبرې به یې کولې او هغه څوک چې په لاره به تېرېدل دوی به پسې کتل حضرت ابو الدرداء ❼ ورته راغلو ورته یې وویل ای بچیانو د یو مسلمان سړي لپاره خانقاه او دخلوت ځای دهغه خپل کور وي چې دی پکې ځان حصار کړي او هلته د الله ② ذکر او فکر وکوي تاسې دلته په لارو کې مه کینئ پدې کېناستلو کې تاسې ته هېڅ ګټه نشته هغه ټولو کسانو دده خبره ومنله او هلته به بیا نه کېناستل .

حضرت ابو الدرداء ❼ چې په دمشق کې وو یو ځل حضرت معاویه چې پدې وخت کې د دمشق والي وو دده څخه وغوښتل چې خپله لور دهغه زوی یزید ته ورکړي لکن ابو الدرداء ❼ هغه ته انکار وکولو او د هغه په ځای یې خپله لور یو غریب ځوان سړي ته ورکړه چې دهغه اسلامیت او دیانت دده خوښ شوی وو چې ددې قصې نه خلک خبر شول نو خلکو به له یو بل نه پوښتنه کوله چې ابو الدرداء ❼ ولې یوې داسې مالدارې او د ولایت کورنۍ ته انکار وکولو او یو غریب سړي ته یې خپله لوري ورکړه؟ آخر په یو مجلس کې دا سوال تر حضرت ابو الدرداء ❼ پورې را ورسېد او پوښتنه ترې وشوه چې ده معاویه ته انکار ولې وکړو او دهغه زوی ته یې خپله لور ورنه کړه او یو غریب سړي ته یې ورکړه؟ ده ورته

وویل چې ما هغه څه وکول څه چې زما په نظر د درداء (دده لور وه) لپاره ښه وو، هغه کس ورته وویل چې ولې ستا دا نه وه خوښه چې ستا لور دي په سهولت کې ژوند وکوي او خادمان د وي ورته او د ولایت په کورنۍ کې دي وي؟ ده ورته وویل چې زما سره دهغې د دنیا غم نه دهغې د دین غم وو چې هغه دنیا یې ښائسته شي .

کله چې حضرت ابو الدرداء ❼ په دمشق کې وو حضرت عمر ❼ د دمشق په سفر باندې راغلو د شپې د حضرت ابو الدرداء ❼ کور ته راغلو د حضرت ابو الدرداء ❼ په کور کې چراغ نه درلود د حضرت عمر ❼ یې ښه تود هرکلی وکړو او په کور کې یې کښېنولو او دواړو په تیاره کې خبرې سره کولې د رڼا څه انتظام نه وو پدې تیاره کې حضرت عمر ❼ د حضرت ابو الدرداء ❼ بالښت ته لاس ورووړو چې ویې کتلو هغه مستقل بالښت نه وو هغه د کوم حیوان زین وو خو ده د شپې د بالښت کار ترې هم اخستلو او چې دهغه د څملاستلو ځای یې وکتلو نو هغه صرف وړې شګې وې په هغې به څملاستلو او دهغه کمپله یې وکتله چې ده به آغوستله هغه دومره کمزورې وه چې د دمشق د یخ نه یې بالکل حفاظت نشوای کولی ده ورڅخه پوښتنه وکوله؟

زه دا شیان درته لږ د راحت کړم؟ زه څه شی درته را ونه لېږم؟ ابو الدرداء ❼ ورته وویل چې تاته د رسول الله ﷺ یو حدیث په یاد دی چې هغه مونږ ته ویل؟ حضرت عمر ورڅخه پوښتنه وکوله چې کوم حدیث؟ حضرت ابو الدرداء ❼ ورته وویل چې هغه نه دي ویلي چې پدې دنیا کې د ستاسې د یو کس لپاره دومره توښه وي لکه د یو سپاره مسافر لپاره چې څومره وي او مونږ څه وکول ای عمر؟ حضرت ابو درداء ❼ ترې

پوښتنه وکوله پدې خبره دواړو ښه سره وژړل او ژړا پدې خبره وه چې رسول الله ﷺ فرمایل چې د انسان باید توله توښه دومره وي لکه دیو مسافر چې وي او مونږ اوس څومره شیان جمع کووو او څومره سهولتونه ځان ته پیدا کول غواړو .

❼حضرت خباب

حضرت خباب ❼ له هغه کسانو څخه یو دی چې خپل ځان یې د الله ② د رضا لپاره تکلیفونو ته ورکړی وو او خپل ژوند یې د الله د رضا کولو لپاره قربان کړی وو او دا شپږم او یا اوم هغه کس وو چې اسلام یې قبول کړی وو او تر ډېره وخته پورې په تکلیفونو او زحمتونو کې پاتې شو په ګرمه وسپنه به څملول کېدو، ګرم لمر ته به په ګرمو شګو کې پرېښودل کېدو او مختلف تکلیفونه به ورکول کېدل حضرت خباب ❼ د یوې ښځې غلام وو کله چې هغه خبره شوه چې ده اسلام قبول کړی دی نو دده تعذیب کول او ده ته تکلیف ورکول یې شروع کړل.

یوه ورځ حضرت عمر ❼ د خپل خلافت په دوره کې دده نه د هغه تکلیفونو په اړه پوښتنه وکوله چې د اسلام په اول کې ده ته د مسلمان کېدو له امله ورکول کېدل ده خپله شا لوڅه کړه او حضرت عمر ❼ ته یې ورښکاره کړه حضرت عمر ❼ چې ولیده نو یې ویل تر اوسه پورې ما داسې شا نه ده لیدلې او دده مبارک په شا کې هغه داغونه چې ده ته ورکړل شوي وو تر آخره پورې ښکاره کېدل ده به ویل چې زه به هغوی په ګرم اور باندې شا په تخته ورڅملولم زما د بدن وینو او زوو به هغه لاندې اور ګل کړو.

کله چې اسلام په ترقي کې شو او مسلمانانو ډېر فتوحات وکول ده به اکثر ژړل او ویل به یې چې ای الله داسې ښکارېږي چې ته مونږ ته په دنیا کې زمونږ د ټولو تکلیفونو بدلې راکوې بیا خو به د آخرت لپاره مونږ ته هیڅ شی پاتې نشي او څومره چې به ده ته راحت رسېدو دومره به دی پرې خفه کېدو او ویل به یې چې دا نعمتونه چې

الله دلته مونږ ته راکوي د آخرت لپاره زمونږ اجر کميږي .

دوکه کونکی زمونږ له ډلې څخه نه دی

رسول الله ﷺ يوه ورځ د غَلي د انبار په خوا کې تېرېدلو چې د خرڅ لپاره وو نو يې انبار ته لاس کړو چې لاس يې پکې لږ لاندې تېر شو نو د گوتو سره يې نم ولگېدو هغه غَله لاندې څه نمجنه وه نو رسول الله ﷺ يې د څښتن نه پوښتنه وکوله چې دا څه دي؟ هغه ورته وويل چې د باران له امله ده يا رسول الله .. بيا رسول الله ﷺ ورته وويل چې ته بيا ولې داسې نه کوې چې دا لنده غله پرې دپاسه کېږدې (چې اخستونکی يې وويني) هغه کسان چې دوکې کوي هغه زمونږ له ډلې څخه نه دي .

په تکليفونو باندې صبر کوئ

حضرت خباب ابن الارث ❼ فرمايي چې مونږ رسول الله ﷺ ته په داسې حالت کې راغلو چې د کعبې د پردې سره وو او مونږ ورته شکايت وکولو او ورنه مو پوښتنه وکوله چې ته د اسلام د ترقي او فتح لپاره دعا ولې نه کوې ؟ ته د الله ② نه زمونږ لپاره مرسته ولې نه غواړې؟ هغه راته وويل چې ستاسې نه په مخکې امتونو کې به يو مسلمان را نيول کېدو او په يو سورې کې به تخته کول کېدلو او د سر نه به اره وربانده کېښودل کېده او سر به يې په مينځ دوه ځايه کېدلو بيا به هم هغه په خپل دين باندې کلک ولاړو وو. د وسپنې په گمنځ باندې به د هغه د بدن له هډوکو څخه دهغه غوښه او وازده کمنځ کېدل او گرول کېدل به لکن بيا به هم دی په خپل دين باندې کلک ولاړ وو الله ② به دا مشکل

حل کړي الله به دا دین پوره کړي تردي چې یو کس به د صنعاء د یمن څخه تر حضرموت پورې سفر کوي او پدي سفر کې به دده له هیڅ شي څخه وېره نه کیږي یو به یې په زړه کې دالله نه وېره وي او بل به د لېوه نه وېرېږي چې دده په رمه باندې حمله ونه کوي او نور به حالات داسې ښه شي چې د بل شي وېره به نه وي خو تاسې ناصبره یاست صبر نه کوئ .

الله به مې وساتي

یوه ورځ رسول الله ☸ تر یوه ونه لاندې ارام فرمایلو او خپله توره یې په ونه کې را ځړولې وه یو کافر په چوپتیا سره راغلو او توره یې را واخیسته بیا یې ده ته وویل ای محمده! نن به تا زما د لاسونو څخه څوک خلاصوي؟ رسول الله ☸ ورته په خپل خواږه اواز کې وویل الله به مې وساتي.. هغه چې د الله نوم واورېدو هغه وړار شو او په رېږدېدا شو او توره یې د لاس نه وغورځېده .. رسول الله ☸ ورغلو او توره یې را واخسته او بیا یې ده ته وویل چې اوس به تا زما د لاس نه څوک خلاصوي؟ هغه خفه شو او چپ شو بیا یې د معذرت په غوښتلو او د رسول الله ☸ نه یې د بښنې په غوښتلو شروع وکړه نو رسول الله ☸ هغه معاف کړو هغه چې د رسول الله ☸ دا مهربانې وکتله نو ډېر زیات متاثر شو او اسلام یې قبول کړو او بیا به هغه ویل چې ما په ژوند کې د رسول الله ☸ نه غوره انسان نه دی کتلی .

او د رسول الله ☸ د ساتنې او حفاظت په اړه الله ② فرمایي چې ای پیغمبره تاته چې کوم پیغام درکړل شوی دی هغه خلکو ته ورسوه او که د ونه

رسول نـو تـا خپـل رسالـت پـوره نـه کړو. او الله بـه تـا د خلـکو څخه ساتـي .

❼حضرت ابو العاص بن الربيعة

حضرت ابو العاص ❼ د قریشو د قبیلي سره په عبد الشمس سره یو ځای کیږي په نوي ځوانی کې وو او ډېر ښه به ښکاره کېدو او ښه ښائسته ځوان وو او په قدرتي توګه یې ډېر ښه خویونه درلودل د عزت خاوند دروند انسان وو د خپلو مشرانو عزت به یې کولو او دهغوی په طور به یې د خلکو سره ښه رویه او ځواني کوله ابو العاص ته د تجارت سره مینه له خپلو مشرانو څخه په میراث کې پاتې وه لکه چې په قران کریم کې په قریش نومي سورت کې ښکاره کړل شوېده چې قریشو په دوه تجارتي سفرونو کې شهرت درلود چې یو سفر به یې په ژمي کې جنوب علاقو ته یمن ته کولو او دېته به یې د ژمي سفر ویل او بل سفر به یې په اوړي کې کولو شمالي طرفونو ته سوریې ته کولو او دیته به یې د اوړي سفر ویلو د حضرت ابو العاص قافلي به اکثر د مکې او سوریې په مینځ کې تلې راتلې او دده په قافله کې به د دوو سوو کسانو په شاوخوا کې کسان او د سلو اوښانو په شاو خوا کې اوښان وو خلکو به خوښول چې ده ته د تجارت لپاره خپلې پیسې یا خپل سامان ورکړي ځکه په تجارت کې دده ښه مهارت وو او ښه ګټه به یې کوله دده پاکي او دده امانت داري هم د هرچا خوښ وو حضرت خدیجه بنت خویلد دده خاله وه او ده ته یې د مور مینه ورکوله او د ده یې ډېر په غور سره ساتنه کوله او د رسول الله ﷺ په کور کې ده ته بالکل لکه د مور او پلار داسي مینه ورکول کېده دا عمر په ده باندې ډېر زر زر تېر شو او د رسول الله ﷺ لور مبارکه حضرت زینب لویه شوه او د مکې مکرمې د ډېرو مشرانو له لوري نه ورته جرګې راغلې او جرګې به ورته ولې نه راتلې د شریفې کورنۍ جینۍ وه او په انسانیت کې د بې ساري پلار او بې ساري مور تر نظر لاندې لویه شوې وه خو زینب

د چا په قسمت کې نه وه د ډيرو مشرانو خلکو دا هيله وه چې د زينب بي بي ډولۍ به خپل کور ته وړي خو معلومه نه وه چې دا ډولۍ به د چا کور ته ورځي آخر ښکاره شوه چې دا د ښه قسمت خاوند ځوان حضرت ابو العاص وو دحضرت ابو العاص او حضرت زينب رضی الله عنهما د واده څه ډير وخت نه وو تيړ شوی چې د اسلام رڼا را ښکاره شوه او ددې آيت مطابق چې الله ② رسول الله ﷺ ته فرمايي چې خپلو خپلوانو ته وېره ورکړه د اور نه نو رسول الله ﷺ خپلې بي بي حضرت خديجه رضی الله عنها ته خپل اسلام ښکاره کړو او هغې ورباني فوراً ايمان راوړو بيا حضرت ام رقيه، کلثوم، زينب او فاطمه ❼ وربانديې ايمان راوړو د زينب خاوند دخپلو نيکونو لاره پرې نه شودله او بيا يې ديته غاړه کېنښوده چې داسې يوه نوې لاره قبوله کړي چې دده ښځې دده نه ورانديې قبوله کړې وه سره ددې چې اوس يې هم د زينب سره په زړه کې مينه وه پدې وخت کې په رسول الله ﷺ او دهغه په ملګرو بانديې د قريشو ظلمونه زيات شول د مکې مشران خلک او د عزت لرونکي خلک را ټول شول او ابو العاص ته يې وويل چې د رسول الله لور ور پرېږده چې د پلار کور ته يې ورشي طلاق ورکړه او ددې په ځای به مونږ تاته داسې واده وکوو چې څنګه ستا زړه غواړي په ښه مشهوره او د عزت په کورنۍ کې لکن ده ورته وويل چې نه والله دا کار خو زه نشم کولی چې د زينب په ځای دې زه بل څوک د خپلې ښځې په صفت قبول کړم خو د رسول الله ﷺ دوه نورې لوراني رقيه او حضرت ام کلثوم رضی الله عنهما د خپلو خاوندانو له لوري نه را پرېښودل شوې وې رسول الله ﷺ دا فکر کاوه چې ابو العاص به يې هم پرېږدي څرنګه چې د رسول الله ﷺ لوراني سره ددې چې کور ته خو راغلې خو بيا هم رسول الله ددې امله پرې خفه نه وو چې څه دا مسلمانې وې که

کافرو خاوندانو را پرېښودلې نو خیر دی سره ددې چې پدې وخت کې دا حکم نه وو شوی چې مسلمانه ښځه د کافر خاوند سره نشي پاتې کېدلی خو بیا هم ښه خبره وه چې باید داسې نه وي .

رسول الله ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکولو د بدر د جنګ وخت را غلو ابو العاص نه غوښتل چې لاړ شي او د مسلمانانو خلاف په جنګ کې برخه واخلي او نه یې غوښتل چې د مسلمانانو سره یو ځای شي ده غوښتل چې د دواړو نه بې طرفه پاتې شي خو په قریشو کې مشرانو خلکو په ده باندې زور راوستلو او دی یې له ځان سره روان کړو د بدر جنګ د مشرکینو په ذلت تمام شو او دوی پکې ماتې وخوړه ځینې پکې ووژل شول ، ځینې پکې ژوندي ونیول شول او ځینې یې په تېښته بریالي شول کوم کسان چې ونیول شول په هغوی کې یو د بي بي زینب خاوند ابو العاص وو هغه کسان چې بندیان وو رسول الله ﷺ په دوی باندې فدیه مقرره کړه چې ورکوي به یې د زرو درهمونو څخه نیولې تر څلور زره درهمه پورې د دوی د مالدارې او غربت په بنیاد باندې په دوی باندې دا مبلغ تعین شو هرچا له مکې نه د خپل لورې نه کسان ولېږل چې خپلوان را خلاص کړي او تعین کړل شوی مبلغ رسول الله ﷺ او صحابه وو ته حواله کړي حضرت زینب هم خپل وکیل ولېږلو چې خاوند یې راخلاص کړي او معلومې پیسې یې په لاس ورکړې او پدې پیسو کې یې یو د خپلې غاړې آمېل ورکړو چې دا آمېل دېته خپلې مور حضرت خدیجې رضی الله عنها د خپل مرګ نه وړاندې ورکړی وو رسول الله ﷺ چې کله دا آمېل اوس ولېدو چې د یو بندي د خلاصولو په فدیه کې راغلی دی نو یو دم یې په مخ باندې خفګان را ښکاره شو د خپلې لور په حالت باندې یې زړه ډېر سخت درد وکولو او خپلو صحابه وو ته یې مخ را واړولو ویې ویل زینب دا مبلغ د خپل خاوند د خلاصون لپاره

رالېږلې دى كه ستاسي خوښه وي دا به بېرته زينب ته ور ولېږو او دا خاوند به يې مفت ور خوشي كړو؟ دوى ورته وويل هو رسول الله صحيح ده مونږ به هغه څه كوو چې په كوم شي كې ستاسي خوشحال وي . خو د ابو العاص په خوشي كولو كې رسول الله ﷺ وربانديې يو شرط كېښودو چې څنګه لاړ شي نو زما لور زينب به را لېږي بيغير ددېنه چې ويې ځنډوي.

دا چې څنګه مكې ته را ورسېدو نو خپلې ښځې ته يې وويل چې د سفر تياري كوه رسول الله ويل چې را دې شي او هغه د مكې نه بهر ستا انتظار كوي او خپل ورور عامر ته يې وويل چې دا ور ورسوه چې په كوم ځاى كې د بنديانو د خلاصولو كار تر سره كېدو هلته رسول الله ددې انتظار كوي هغه ځان په خپله وسله بانديې سنبال كړو او زينب يې له ځان سره روانه كړه رڼا ورځ وه او ټولو قريشو ورته په رڼو رڼو ستركو كتل قريش چې همدا اوس يې د بدر زخم په زړه لګېدلى وو ډېر كسان يې مړه وو او ډېر يې بنديان وو او د ډېرو نه يې خپلې وسلې د جنګ په ميدان كې پاتې وې او په قسمت سره را خلاص شوي وو نو زينب ته هم ددې املـه غصه وو چې ددې پلار د مسلمانانو امير او لارښود وو نو يې نشو زغملاى چې دا اوس څنګه په امن سره د خپل پلار خوا ته ورځي نو تردې پورې چې په دوى بانديې را تاو شول عامر خپل غيشې را واخستو او ويل يې زما د په الله قسم وي څوك خو دې زينب ته ور نېږدې شي دا غشى يې تر مرى اوباسم او عامر هسې هم په غيشو ويشتلو كې زيات مشهور وو ابو سفيان ابن الحرث چې پدې وخت كې د قريشو په ډله كې وو عامر ته يې ويل وراره ته دا غيشى كېږده زه لتا سره خبره كوم هغه غيشى يوې خوا ته ونيولو او ابو سفيان ورغلو ورته نېږدې شو ورته يې وويل چې ګوره دا تا ښه ونه كول چې په رڼا

ورځ کې دې زینب را وویسته تاته معلومه ده چې ټول خلک پدې خبر دې چې په بدر کې مونږ څومره تکلیف شوي یو او ته اوس د پیغمبر لور په رڼا ورځ وباسې دا شاوخوا نورې قبیلې به څه وایې چې قریش دومره بیغیرت وو چې هغه یوه ښځه یې هم نشوای را ګرځولای ته داسې وکوه چې دا اوس بیرته کور ته بوزه او یو څو ورځې ورته صبر وکوه او بیا په تیاره کې یې وباسه زمونږ ددې په را ګرځولو کې هیڅ دلچسپي نشته مونږ بس صرف همدا وایو چې زمونږ نه شرم لرې شي دا خبره چې زینب واوریده هغه هم را وګرځیده بیرته کور ته راغله .

یو څو ورځې وروسته یې په نیمه شپه کې زینب روانه کړه لکه څنګه یې چې ورور ورته هدایت کړی وو په هماغه طریقه سره یې بوتله او رسول الله ﷺ ته یې حواله کړه د زینب د تلو نه وروسته هم ابو العاص تر ډیرو کلونو پورې په مکه کې پاتې شو د مکې د فتح نه لږ وړاندې د تجارت په سفر باندې سوریې ته لاړو د هغه ځای نه په بیرته را ګرځیدلو کې د سلو اوښانو او یو سل اویا کسانو قافله وه دا د مدینې په ساحه کې مسلمانانو ته په لاس ورغله دوی دا اوښان او دا نسانان ټول راوستل رسول الله ﷺ ته ابو العاص پدې وخت کې د شپې د سختې تیارې له امله په تیښته بریالی شو او مدینې ته راغلو د زینب کور ته او د زینب نه یې پناه وغوښته هغې ورته پناه ورکړه سحر وختې رسول الله ﷺ مانځه ته را ووتلو او چې الله اکبر یې وکول په محراب کې و دریدو او مسلمانان پسې شا ته ودریدل پدې وخت کې د ښځو د طرف نه اواز وشو چې ای مسلمانانو زه زینب یم د رسول الله لور ما ابو العاص ته امان ورکړی دی تاسې هم ورته امان ورکړئ کله چې مونځ ختم شو رسول الله ﷺ خلکو ته مخ را واړولو ویل یې چې تاسې هغه څه واوریدل چې ما

واورېدل؟ صحابه ورته وويل هو! یا رسول الله . بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم زیاته کړه چې زما دپه هغه ذات قسم وي چې زما روح دده په واک کې دی چې زه هم ددي واقعې نه تردي وخته نه وم خبر چې دا مې و اورېدل کوم چې تاسې واورېدل بیا یې خپلې لور ته وویل چې ځه اوس کور ته لاړه شه د ابو العاص لپاره د ارام ځای برابر کړه او هغه ته دا ښکاره کړه چې ته اوس د هغه کور واله (مېرمن) نه یې بیا رسول الله ﷺ هغه کسانو ته وویل چې دا قافله یې را نیولې وه تاسې دا مالونه ددوی نه اخستي دي که تاسې دا مالونه بېرته ورکړئ نو دا به مونږ خوشحال کړي او که تاسې یې نه ورکوئ د غنیمت په بنیاد ستاسې په هغه مالونو کې حق شته صحابه وو ورته وویل چې هو مونږ به د دوی مالونه بېرته ورکړو .

کله چې ابو العاص راغلو د مالونو ټولول یې شروع کړل دوی ورته وویل چې ته د قریشو د مشرانو له کورنی څخه یې او ته د رسول الله زوم هم یې ته اسلام نه قبلوې؟ مونږ به دا ټول مال او دولت تاته درکړو دا به ستا شي ته یې دخپل ځان لپاره کارولی شي او دلته به خپل ژوند پرې جوړ کړې او دلته له مونږ سره په مدینه کې پاتې شه .

ده ورته وویل چې تاسې لما څخه ډېره بده غوښتنه کوئ زه دهغه کسانو سره خیانت وکوم چې ما یې مالونه را بار کړي او د خیانت سره په نوي مذهب (اسلام) کې داخل شم؟

ابو العاص مکې ته راغلو او ټولو خلکو ته یې دهغوی مالونه ور تقسیم کړل او بیا یې خلکو ته وویل چې ای خلکو؟ په ما خو د چا څه امانت پاتې نشو چې ما نه وي ورکړی؟ په جواب کې

اواز ورته راغلو چې نه زمونږ په تا باندې يقين دی او همېشه مو په تا باندې يقين کړی او کوو يې .

بيا ابو العاص خلکو ته وويل چې ښه ده چې ما ستاسې امانتونه تاسې ته وسپارل زه اوس ددې ګواهي ورکوم چې نشته لائق د عبادت مګر الله د ی محمد دهغه رسول دی اوس زه دا اعلان کوم چې زه مسلمان يم او کله چې زه په مدينه کې وم زه صرف دې خبرې د خپل اسلام د اعلان نه منع کړم چې تاسې به بيا دا فکر کوئ چې ما دا کار هلته صرف ستاسې د مالونو د ضبط کولو لپاره وکولو اوس زه راغلم او تاسې ته مې خپل امانتونه در وررسول او اوس زه مسلمان يم ابو العاص را روان شو مدينې ته د رسول الله ﷺ خوا ته راغلو رسول الله ﷺ يې ښه قدر وکولو او زينب رضى الله ② عنها يې ورته بېرته ورکړه رسول الله ﷺ به دده په اړه ويل چې ده زما سره خبرې کړې وې او دی په خپلو خبرو کې رښتونی دی هغه لما سره وعده وکوله او په خپله وعده کې رښتونی پاتې شو .



د دروا غو سزا

حضرت انس ابن مالک ❼ فرمايي چې يو عيسايي وو اسلام يې قبول کړی وو سورت بقره او سورت آل عمرن يې زده کړي وو رسول الله ته به يې وحی ليکله د يو څه وخت د تېرېدلو نه وروسته هغه بېرته عيسايي شو بيا به يې خلکو ته ويل چې رسول الله خو په څه هم نه پوهېدو بس هغه ما به چې څه شی ورته ليکلي وو هغه به يې خلکو ته ويل بيا هغه الله ② مړ کړو خلک راغلل خښ يې کړو چې سبا خلکو وکتلو هغه د قبر څخه پاس پروت وو زمکې را ويشتلی وو خپلوانو يې الزام په رسول الله ☸ او په صحابه ولګولو او ويل يې چې دا کار همدوی کړی دی او ځکه يې کړی دی چې دا خو ددوی د ډلې نه راغلی وو نو يې بيا ورته قبر جوړ کړو او تر مخکني څخه يې ورته ژور جوړ کړو او دی يې پکې خښ کړو سبا بيا هغه د زمکې په سر پروت وو دوی بيا هماغه خپله خبره کوله او تور يې په رسول الله ☸ او په صحابه باندې لګولو بله ورځ يې ورته قبر دومره ژور جوړ کړو چې څومره ددوی په وس کې وه نو چې بيا يې پکې خښ کړو نو سبا بيا بهر پروت وو نو يې بيا هم الزام په رسو ل الله ☸ او په مسلمانانو لګولو او بيا يې د خښولو نه ډډه وکړه او هغه يې همداسې د زمکې لپاسه پروت پرېښودو .


صحيح البخاري جلد څلرم حديث نمبر ٤١٨



د باران معجزه

حضرت انس ❼ فرمايي چې کله رسول الله ﷺ د جُمعې مونځ کولو يو کس ورته راغلو چې يا رسول الله ډېره سختي ده د الله ② نه وغواړه چې باران وشي او پدې وخت کې په اسمان کې هېڅ ډول وريځ نه وه رسول الله ﷺ دعا وکوله او له يوې خوا بلې خوا وريځ سره پيدا شوه او سره يو ځای شوه او باران شروع شو پوره يوه هفته باران وو د هرې خوا نه سيلابونه را ووتل او چې د بلې جمعې په ورځ رسول الله ﷺ دجُمعې مونځ کولو نو هماغه کس بيا ورته راغلو ويل يې چې ای رسول الله باران زيات شو مونږ ترې تنګ شو ته الله ② ته دعا وکوه چې بس يې کړي رسول الله ﷺ ورته مسکی شو او دعا يې وکوله چې ای الله زمونږ په شاوخوا يې و اوروه په مونږ يې مه اوروه بيا وريځ سره خپره شوه اود مدينې د سر علاقه اسمان شين شو او په شا اوخوا باندې بيا هم باران روان وو .

الله ② صحابه وو ته ور ښکاره کړه چې هغه د خپل پيغمبر خبره په څه ډول مني او هم يې خلکو ته ښکاره کړه چې رسول الله ﷺ په حقه پيغمبر دی او دده دعا قبليږي .



د جنت آسونه

حضرت ابو ایوب انصاري ❼ روایت کوي چې د صحرا یو کوچی رسول الله ﷺ ته راغلو ورته ویل یې چې ای رسول الله زه د آسونو ډېر زیات شوقي یم په جنت کې به آسونه وي؟ رسول الله ﷺ ورته و فرمایل چې که ته جنت ته لاړې هلته به ستا لپاره د زمرودو څخه جوړ آسونه وي چې وزرونه به لري او چې ته په هغه باندې سپور شې نو چې کوم ځای ته ته تلل غواړې هغه به تا هلته رسوي . ترمذي

مجاهد زوی او مجاهده مور

کله چې دا خبره را ښکاره شوه چې نصارا (مسیحیان) را ټول شوي او هغوی د اسلام جرړه له مینځ نه ویستل غواړي او پوره تصمیم یې نیولی دی نو حضرت ابو قدامه جومات ته راغلو په محراب کې و درېد او په هیبت ناک او درانده اواز سره یې خلکو ته خبرې وکولې او خلک یې د خپلې زمکې او خپل دین نه د دفاع کولو ته را وبلل او په زړه پورې تقریر یې ورته و کا چې کله د جومات نه روان شو نو په تیاره کې ورته یوه ښځه ولاړه وه هغې ودرولو او ورته یې وویل السلام علیکم ده ورته ځواب ورنه کړو هغې ورته خپل سلام بیا تکرار کړو او ویې ویل چې نیکان خلک داسې کار نه کوي او یو قدم یې له تیارې نه رنا خواته را واخسته او ویې ویل چې ما واورېدل چې تاسې په جومات کې خلک جهاد ته هڅول او زما سره دا دوه کمڅې دي چې د آسونو د واړو لپاره په کار کېدلی شي دا تاسې په جهاد کې مصرف کړئ کیدی شي الله ② ما په هغه کسانو کې شمار کړي چې جهاد ته ځي په بله ورځ چې کله د کلي خلک د جهاد لپاره را ووتل د ډلې نه یو

وورکي ماشوم را ووتلو او د قدامه د آس مخې ته ودرېدو او ورته يې ووېل د خداى لپاره ماته اجازه راکړه چې جهاد ته لاړ شم په ولاړو خلکو کې مشرانو جنګياليو ور پورې وخندل او ورته يې ووېل آسونه به دې تر پښو لاندې کړي حضرت قدامه ورته وکتل او هلک ورته بيا ووېل چې د خداى لپاره ماته اجازه راکړه چې جهاد ته لاړ شم قدامه ورته وکتل او ورته يې ووېل چې زه به تا ته اجازه درکړم لکن په يو شرط چې که ته شهېد شوې نو زما شفاعت به کوې.. هلک ورته ووېل چې بس دا زما وعده شوه .

کله چې دواړه لښکرې سره مخامخ شوې د جنګ په وخت کې او جنګ سخت شو په سخت جنګ کې دا ماشوم په آس سپور د حضرت ابو قدامه د آس شا ته راغلو ويل يې ستا دې په الله قسم وي چې درى غشي خو ماته راکړه . ابو قدامه ورته ويل چې ته به يې ضائع کړې ده بيا ورته ويل چې ستا دې په الله قسم وي ماته درى غشي راکړه .

ابو قدامه ورته غيشي ورکړل هلک ليندى را واخسته او يو غشى يې پکې کېښودو نښه يې ونيوه او ويل يې بسم الله غشى لاړو او يو رومي پرې ولګېدو او مړ شو دوهم ته يې ووېل بسم الله بيا غيشى لاړو او يو کس وربانديې ولګېدو او مړ شو ، بيا دريم ته يې ويل بسم الله غيشى لاړو اويو رومي وربانديې ولګېدو او مړ شو د دريم غيشي نه وروسته يو غيشى راغلو او ماشوم وربانديې په سينه کې ولګېدو او له آس نه را وغورځېدو ابو قدامه وربانديې ورمنډه کړه او ماشوم يې را پورته کړو دغه آخرې سلګى وې او په آخري سلګيو کې يې ورته ووې خپله وعده ياده ساته ماشوم جيب ته لاس کړو او يوه کڅوړه يې را وويسته او ابو قدامة ته يې ورکړه او ورته يې ووېل دا زما مور ته ور ورسوه . ابو قدامه

ورته ويل ستا مور ځوک ده؟ ماشوم ورته وويل
هغه ښځه چې تاته يې پرون دوه کمڅۍ درکړې وې .

❼حضرت عدي ابن حاتم

د هجرت په نهم کال د عربو بادشاه وروسته د
ډېر نفرت نه د اسلام په لوري يو قدم پورته کړو
او وروسته ددې چې د اسلام او رسول الله نه به يې
نفرت کاوه اوس يې ورسره خپله دوستي اعلان کړه
دا حضرت عدي وو د مشهور حاتم الطائي زوی چې
پلار يې ددنيا په تاريخ په سخاوت او ورکړه کې
ځانګړی نوم لري هو دا هماغه حاتم الطائي دی
چې تاسې يې نوم آورېدلی دی دده دا زوی عدي
بادشاه او مشر وو دده خپل قانون وو او خپله
بادشاهي يې وه او په قانون کې يې يوه خبره دا
وه چې که په جنګ کې به يې کسانو ته څه د
غنيمت په توګه لاس ته ورغلل نو څلرمه برخه به
تري ده اخسته .

کله چې رسول الله ﷺ خپل دعوت اعلان کړو نو دی
عيسايي وو او ددې تحريک نه يې خپل قدرت ته
زيات د خطر احساس کاوه سره ددې چې ده تر
اوسه پورې لا پيغمبر لېدلی نه وو خو په زړه کې
يې ورته دښمني ساتله او تقريباً تر شلو کلونو
پورې يې د رسول الله ﷺ سره خپله دښمني وساتله
او بيا يې ددې حق دين رڼا زړه ته ور ننوتله
او په زړه کې يې دې مبارک دين ته ميلان پيدا
شو هغه څنګه مسلمان شو په زړه پورې قصه ده .

هغه فرمايي : کوم وخت چې ما د رسول الله ﷺ په
اړه واورېدل په عربو کې څوک داسې نه وو چې
زما په شان زياته کينه يې له رسول الله ﷺ سره
کوله زه پدې وخت کې د شهرت خاوند وم بادشاهي
مې وه له خپلو کسانو څخه مې د غنيمت د مال
څلرمه برخه اخستله او همدا د ټولو عربو

قانون وو کله چې رسول الله ﷺ را ښکاره شو او دهغه فوځيان شرق او غرب لوري ته خپاره شول د اسلام ترقي مخ په زياتېدو وه ما خپل د آسونو يو خدمت ګار ته وويل :

ماته يوه ښه چاغه سپرلي تياره کړه او دهغې ساتنه کوه او هغه هروخت تياره ساته او که چېرته تا واورېدل چې د محمد رسول الله فوځيان ددې زمکې په لور را روان دي نو ما بياخبر کړه . يوه ورځ مې غلام راته وويل چې که د رسول الله فوځيان ددې زمکې لوري ته راځي که ته څه کول غواړې نو اوس يې وکوه اوس يې وخت دی .

ما ورته وې ولې؟ مور دربانديې بوره شه ده راته وويل چې ما آورېدلي دي چې د شاوخوا کليو د رسول الله ﷺ سره د مرستې تړون کړی دی ما ورته ووې نو بيا هغه اوښ ماته اوس راوله چې ما تاته ويلي وو چې راته تيار يې کړه او بيا مې خپل کور واله تول راوغوښتل چې زما ماشومان پکې هم وو او هغوی ته مې وويل چې مونږ اوس دا خپله زمکه بايد پرېږدو او مونږ به ځو د سوريې خواته هلته زمونږ د مذهب نور خلک هم دي د هغوی سره به يوځای کيږو زر زر مې د کورنۍ خلک سره را ټول کړل او چې ومې کتل د کورنۍ ځينې غړي اوس موجود نه وو خو په بيړه بيړه لاړو او سوريې ته ورسېدو هلته مو د خپلو نورو مذهبيانو (عيسايانو) په مينځ کې ژوند اختيار کړو او هلته اوسېدو پدې وخت کې زما نه يوه خپله خور او يو څه نور زمونږ د قبيلې خلک زمونږ نه پاتې شول چې کله د رسول الله ﷺ فوځيان زمونږ ځايونو ته ورغلل زما خور او څه نور کسان يې له ځان سره د بنديانو په توګه يثرب (مدينې) ته بوتلل او د جومات سره نېږدې يې د بنديانو په کمپ کې زما خور هم واچوله يوه ورځ چې رسول الله ﷺ جومات ته را روان دی نو

په لاره کې زما خور ور ته ودرېده ورته يې وويل چې ای د الله رسوله زما پلار مړ دی او ساتونکی مې هم دلته نشته ته په ما باندې مهربان شه الله دې په تا باندې ورحميږي . هغه ورځخه پوښتنه وکوله چې ستا ساتونکی څوک دی دې ورته وويل چې عدي ا بن حاتم رسول الله ﷺ ورته وويل هغه چې د الله او د هغه د رسول څخه تښتېدلی دی؟ بس دا يې ددې پوښتنې سره پرېښوده او رسول الله ﷺ ورڅخه تېر شو په سبا باندې دا خبرې بيا په همدې توګه باندې وشوې او ختمې شوې په بله ورځ زما خور ورته چپ وه او څه يې ونه ويل خو د رسول الله ﷺ په خوا کې يو کس ورته اشاره وکړه چې دا د ورته خبره وکوي نو بيا دا ورته پاڅېده او په هماغه توګه يې ورته خبره وکوله رسول الله ﷺ ورته وويل چې سمه ده بس ته ازاده يې او خپلو ملګرو ته يې وويل چې دا پرېږدئ زما خور ورته وويل چې زه سوريې ته تلل غواړم چې د خپلې کورنۍ سره يو ځای شم رسول الله ﷺ ورته وويل چې ته په تلو کې بيړه مه کوه ترڅو چې تاته داسې څوک پيدا شوی نه وي چې ته پرې اعتماد کولی شې چې هغه په امن سره تا بوزي او کله دې چې داسې کس پيدا کړو نو مونږ به پرې خبر کړې چې کله رسول الله ﷺ لاړو نو زما خور پوښتنه وکوله چې دا کس څوک وو چې ماته يې اشاره وکوله چې زه بايد خبره و کوم . نو چا ورته وويل چې دا علي ابن ابي طالب ❼ دی هغه په مدينه کې پاتې شوه ترڅو چې داسې يوه ډله مدينې ته راغله چې په هغې کې داسې يو کس وو چې دې پېژندلو او ددې وربانديې باور وو دا رسول الله ﷺ ته ورغله او ورته يې وويل ای رسول الله زمونږ د خلکو نه يوه ډله راغلې ده او په هغوی کې داسې کس شته چې زه پرې باور کولی شم چې ما به خپل کور واله وو ته ور ورسوي بيا رسول الله ﷺ هغې ته ښکلې او قيمتي جامې جوړې

کړې او يو څه نغدي پيسې يې ورته هم ورکړې او يو اوښ يې ورته هم ورکړو او ا جازه يې ورکړه چې لاړه شي مونږ يې انتظار کولو تردې چې سوريې ته را ورسيده مونږ ته چې پدې اړه اوريدل چې رسول الله ﷺ دهغې سره څومره مهرباني کړيده مونږ وربانديې يقين نشواى کولى او چې کله ما هغه په کجاوه کې وليده په اوښ باندې ما وې چې دا د طائي لور ده؟ دا همدا ده؟

کله چې هغه مونږ ته مخامخ و دريده په تيزى سره يې ماته خبرې شروع کړې او په تېزه تېزه راته غږيده چې تا خپل ماشومان له ځان سره کړل او را روان شوې او نور خپلوان دې ټول هماغلته پرېښودل؟ ما ورته وويل چې څه چې هم وايې خو خير دى بد راته مه وايه او ما کوښښ کاوه چې دهغې غصه په قرار کړم ترڅو چې هغه په قرار شوه بيا يې راته قصه وکوله او ټوله هماغه شان وه لکه چې ما آوريدلي وو او زما خور ډېره هوښياره وه او په يو شي باندې ډېره ښه پوهېده نو ما ورڅخه پوښتنه وکوله چې ته اوس راته ووايه ته د رسول الله ددې حرکت په اړه څه فکر کوې؟ هغې ماته وويل چې زه فکر کوم چې څومره زر چې کېدلى شي ته بايد هغه ته ورشې که چېرته هغه پيغمبر وې نو بيا خو يې بايد متابعت وشي او که چېرته هغه يو بادشاه وې او قدرت ته ځان رسول غواړې نو ته هم يو بادشاه يې بيا دهغه په ليدلو کې څه د عيب خبره خو نشته ما بس په ناڅاپي توګه مدينې ته د سفر تيارى شروع کړو او نه مې مخکې څه خط ور ولېږلو او نه مې له ځان سره د حفاظت لپاره کسان روان کړل او ما دا هم آوريدلي وو چې ده ويلي وو چې زما خواهش دى چې الله د عدي لاس زما په لاس کې کېږدي .

زه چې د رسول الله ﷺ خوا ته را ورسېدم نو هغه پدې وخت کې په جومات کې وو زه ورغلم او سلام مې ورته وکولو ده پوښتنه وکوله چې دا کس څوک دی؟ ما ورته ووې عدي ابن حاتم ... هغه زما لپاره پاڅېدو زه يې تر لاس نه ونيولم او دخپل کور په لار روان شو چې مونږ دده مبارک د کور خواته روان وو په لاره کې يوه زنانه ورته ودرېده چې نوی پيدا شوی ماشوم يې په غېږه کې وو او دده سره يې د څه مشکل په اړه خبرې کولې ترڅو چې دوی خبرې کولې نو زه ورته غلی ولاړ وم ما په زړه کې ويل چې نه په الله قسم دا خو بادشاه نه دی بيا چې کله يې خبرې ختمې کړې زه او دی دواړه ددوی کورته روان شو او چې ددوی کور ته ورسېدو د دوی په کور کې يو وړوکی د څرمنې توټه فرش وو ماته يې وېړ کړو او راته يې وويل چې پدې کينه زه تري خجالت شوم او ورته مې وويل چې نه تاسې دلته کينئ ده راته وويل نه تاسې کينئ زه هلته کېناستلم او دی مبارک راته په خالي غولي کېناستلو څکه نور فرش نه وو .... ما له ځان سره په زړه کې ويل چې قسم ده دا خو د بادشاهانو خويونه نه دي بيا يې لما سره خبرې شروع کړې او راته يې وويل چې ښه عدي ابن حاتم ته هغه کس نه وې چې تا د مسيحيت تابعداري کوله او مذهبي کس وې؟ ما ورته وويل چې هو زه وم هغه لما څخه د قوانينو پوښتنه کوله چې څنګه قانون وو ستا په خلکو کې ما ورته د غنيمت خبره وکوله ورته مې وويل چې ما به څلرمه برخه غنيمت ددوی نه اخستلو نو ده ماته وويل چې ستا مذهب ته ددې څخه نه منع کولې؟ نوزه دلته پوه شوم چې دا پيغمبر او د الله له لاري نه خبر څوک دی بيا هغه ماته وويل چې کېدی شي تا به صرف دا خبره ددېنه منع کوي چې ته په دين کې داخل شې چې ته به فکر کوې چې مسلمانان غريبان دي ، مال او د ژوند سهولتونه ورسره نشته لکن داسې وخت را

نېږدې دی چې د مسلمانان به مالداره وي او هر خواته به یې نعمتونه وي او کېدی شي تا به دا خبره پدې دین کې د داخلېدلو نه منع کوي چې ته به فکر کوې د مسلمانانو تعداد کم دی لکن داسې وخت را نېږدی دی چې یوه ښځه به یوازې په خپل اوښ باندې د قدسیه څخه سپره شي او بیت الله ته به را ورسیږي او پدې اوږده لاره کې به یې په زړه کې صرف د الله نه په زړه کې وېره وي نور به د څه نه هم نه ډاریږي او کیدی شي چې تا به دا خبره پدې دین کې د اخلېدلو نه منع کوي چې ته به فکر کوې چې دمسلمانانو په لاسونو کې قوت نشته په نېږدې کې داسې وخت را روان دی چې لوی لوی قوتونه به تول د مسلمانانو په لاسونو کې وي ددې خبرو سره په همدې مجلس کې ما اسلام قبول کړو .

او په یوه روایت کې داسې راغلي چې کله حضرت عدي ابن حاتم د رسول الله ﷺ ساده ژوند ولیدو نو یې ویل چې ماته ښکاره شوه چې ته په دنیا کې عیش نه غواړې او نه خو ته خیانت کوې او هماغلته په اول لېدلو کې یې خپل اسلام اعلان کړو او کلمه یې وویله .

رسول الله ﷺ به هم د عدي سره ښه رویه کوله یوه ورځ یو صحابي تري پوښتنه وکوله چې ای رسول الله مونږ تا وینو ته د عدي سره داسې رویه کوې چې د بل چا سره تا نه کوله ؟ ده ورته وویل چې هو دا په خپله قبیله کې د عزت سړی دی او کله چې داسې کس ستاسې خواته راشي تاسې هم هغه ته په درنده سترګه ګورئ .

